# توره دنیا خبري




رحمت شاه فراز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یــوه دنیـــا خبــرې

## خوند - اند - پند

ژباړه او ټولونه:

رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | یوه د نیا خبرې |
| ژباړه او را ټولونه: | رحمت شاه (فراز) |
| کمپوزاو پسول: | رحمت شاه (فراز) |


شمېره : 0093 (0) 78 063 48 38

واټساپ : 0093 (0) 76 75 74 834

برېښنالیک : rsfaraz4@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


سریزه........................................ 6

د((سینوهه ) ) له کتاب څخه ........................................ 7

د ژوند راز........................................ 15

غر........................................ 16

بخیل ........................................ 17

مینه ........................................ 17

باد او لمر........................................ 18

باز او توپان........................................ 19

د مورورځ ........................................20

د لټون فلسفه........................................22

د وخت فلسفه........................................23

وخت ........................................25

د خبرو فلسفه ........................................30

د ناروغۍ فلسفه ........................................ 34

د غم فلسفه ........................................38

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټوکر مجسمه ........ 42

د واده ژوند ........ 44

لېوني اوبه ........ 47

لوړې ارادې ........ 48

حضرت بایزید بسطامي رح او یهودي راهب ........ 51

د حضرت بایزید بسطامي رح ځینې کیسې ........ 60

د پیغمبر ص ځانکړنې ........ 64

د عربو حریص ........ 64

پر ماشوم امر کول ........ 66

په عادي خبرو کې د قرآن کریم آیتونه ........ 66

په لمانځه کې هېر شوی ځای وریاد شو ........ 72

د اما ابو حنیفه خوب ........ 72

د خدای قدرت ........ 73

د ځینوو صحابوو له خوا ازاد شوي بندیان ........ 75

ځیرکتیا ........ 75

امام ابو حنیفه رح او یو اعرابي ........ 77

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

وخت په وخت، په بېلا بېلو کتابونو، انټرنیټي وېبپاڼو، مجلو او ورځپاڼو کې مې چې کوم څه لوستي، خوښ شوي مې دي او د پند او اند خبرې مې پکې تر سترګو شوې، نو هماغه وخت مې ژباړلي دي. دا کتاب د همداسې مقالو، کیسو او مطالبو یوه کوچنۍ ټولګه ده. د کتاب له دوو لیکنو ((د سینوهه له کتاب څخه او د ژوند راز )) پرته نورې ټولې لیکنې، ژباړې دي. په پورتنیو دوو لیکنو کې ((د ژوند راز)) زما خپله لیکنه او ((د سینوهه له کتاب څخه)) لیکنه بیا له همدې کتاب (سینوهه) څخه کټ مټ را اخیستل شوې خبرې دي. کله به مې چې سینوهه مطالعه کاوه، نو کومه خبره به مې چې ډېره خوښه شوه، په کتابچه کې به مې راسره ولیکله. وروسته مې بیا هغه ټولې خبرې کمپوز کړې او اوس دا دی ستاسې په وړاندې دي.

یوه یادونه چې ښه به وي ښښنلیک یې وبولم دا ده چې دا لیکنې مې په بېلا بېلو وختونو کې ژباړلې او را ټولې کړې دي، له همدې کبله د ډېرو لیکنو ماخذونه رانه هېر او لا درکه شوي، چې په دې برخه کې له لوستونکي د بښنې په تمه یم. البته هغه ماخذونه چې د بیاکتنې پر مهال به مې ذهن ته راغلل، هغه مې همالته له لیکنو سره یو ځای یاد کړي.

دا کتاب کوم علمي کتاب نه دی او نه په دې موخه برابر شوی، بلکې ډېرو لیکنې یې تفریحي رنګ لري؛ خو ډاډه یم چې یوه لیکنه به هم داسې نه وي چې د فکر، پند او نصیحت یوه خبره و اشاره ونه لري.

په دې هیله چې د علمي سفر په جریان کې مو دا کوچنی کتابګی له داسې ذهني تفریح برخمن کړي چې څه نا څه علمي و فکري ګټه هم در ورسوي.

ستاسو

رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ((سینوهه)) له کتاب څخه

**ژباړه: ډاکټر محمد عیسی ستانکزی**

- پاک تشناب او یخو و ګرمو اوبو حمام کول سړی ښکلی کوي.
- له هر پړاو وروسته د پلرونو علمونه زامنو ته لېږدول کېږي او زامن پرې نوي شیان ور زیاتوي او بیا یې خپلو زامنو ته سپاري.
- حقیقت بیانول ډېر سخت دي او خلک چمتو نه دي چې حقیقتونه واوري، آن که د دوی په ګټه هم وي. په حقیقت کې د خلکو عقل له خرافاتو او چټیاتو سره روږدی شوی وي، له همدې امله هره چټي نظریه مني خو یو عقلي حقیقت نه مني.
- تر هغه چې انسان نوي شیان او پېښې نه وي لیدلې، ځان بشپړ ګڼي، خو له هغه وروسته چې پوه شي، د هغه پر معلوماتو او علمونو سربېره په نړۍ کې ډېر نور علمونه او معلومات هم شته نو ځان ورته کوچنی ښکاري او همدغه وخت په خپل عیب پوهېږي. له همدې امله بې علمه او بې خبره کسان ډېر ژر مغروره کېږي، ځکه چې فکر کوي، په ټولو شیانو پوهېږي او په نړۍ کې تر ده لوړ او تکړه بل څوک نشته. له همدې امله کله چې ګورو یو نارینه یا ښځینه کبر لري او موږ ته په ټیټه سترګه ګوري، باید پوه شو چې ډېر احمق او ناپوه دی او له دې کبله چې په څه نه پوهېږي او تجربه نه لري، نو ځان تر نورو لوړ ګڼي.
- کله چې خلک ناروغه کېږي او په دردونو اخته کېږي نو بیا د ډاکټر ملتیا هم ورته مهمه نه وي، بلکې د دې پر خلاف دا وایي چې ایا ډاکټر تکړه دی او که نه؟ درملنه کوی شي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- آس داسې یو یاغي ځناور دی چې لوی او فرمان نه منونکی دی. کله چې څوک پرې سپور شي نو د مخې دواړه پښې پورته کړي او سپور پر ځمکه وغورځوي، له همدې امله په مصر او سوریه کې خلک تل پر خره سپرېږي چې بې ازاره او فرمانبرداره دی او جنګي ګاډۍ په خره پورې تړي.
- هېڅ یو ټولواک په ازادۍ باور نه لري بلکې په دغو نومونو خلک غولوي چې خپل حکومت وکړي.
- یو ملت د پسونو د یوې رمې په شان دی او باید هغوی په ځینو شیانو بوخت وساتل چې حکومت پرې وکړی شي.
- کله چې پر یوې کڅوړې تېل وموښل شي، سوري یې بند شي او بیا پکې باد پوکړای شي نو کڅوړه وپړسېږي، د کڅوړې خاوند فکر کوي چې په لاس کې یې یو ستر شی دی، خو کله چې کڅوړه سورۍ شي او باد یې ووځي نو کڅوړه بېرته کوچنۍ شي.
- کله چې یو څوک په قدرت او شتمنۍ کې عادت شي نو بیا داسې مینه ورسره پیدا کوي چې د قدرت او شتمنۍ په لاره کې ځان هم قربانوي.
- کله چې انسان پوه شي چې بل غولولی شي امکان نه لري چې ترې تېر شي.
- که د بدۍ سزا په نېکۍ ورکړو، که څه هم له دې امله به بدي رامنځته شي خو تر هغې بدۍ به ډېره کمه وي چې وغواړو بدي په بدي سره جبران کړو.
- ښکلا د دې سبب کېږي چې د خلکو په منځ کې مینه پیدا شي او په یوه ملت کې که ټول نارینه او ښځې ښکلې وي، نو رخې او کینې نه پیدا کېږي.
- دا طبیعي چاره ده چې ناروغ اولاد په پلار ډېر ګران وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کله چې د کار او له بې وزلو سره د مرستې او لاس نیوي مرکز د انسان له نظره ډېر وړوکی ښکاره شي، دلیل یې دا وي چې شتمني او تجملاتو د هغه روح تیاره کړی او د عاطفې سرچینه یې ور وچه کړې وي.
- ټیټ او ناپوه کسان چې پخپله پرتم او حیثیت نه لري، له بخیلۍ څخه په معتبرو او مخورو کسانو پسې خاندي. دوی فکر کوي چې په دې کار سره به خپل کمی او حقارت جبران کړي.
- پخوانۍ مسئلې نن سبا د توجیه وړ نه دي، د دې لپاره چې د انسان د عمر هر پړاو خپلې غوښتنې او اړتیاوې لري، باید له هغو سره سم عمل وشي.
- تېر وخت چې هر ډول وو، تېر شو، باید د نن ورځې لپاره فیصله او اقدام وشي.
- هغه ډول چې یو چینجی مېوه خوري او له دننه یې خرابوي د وخت تېرېدل هم لکه یو چینجی داسې دی چې تاندوالی او نېکمرغي له منځه وړي او که ظلم او بې عدالتي هم ورسره یو ځای شي، ښادي او نېکمرغه ډېره ژر له منځه ځي.
- انسان د خپلو احساساتو مریي وي، د هغه شي غلام کېږي چې مینه ورسره کوي، که هغه انسان وي، حیوان، نبات او یا جماد وي.
- کله چې د ((ولې ؟)) پوښتنه نه وي، استبداد او زور واکي رامنځته کېږي، مشران له همدې امله د ((ولې)) پوښتونکي نه پرېږدي.
- د یوه ملت له زړونو څخه د خرافاتو لرې کول د یوه ستر هرم تر جوړولو هم سخت کار دی.
- هر څه چې د مینې په ګټه وي حتی که هغه دروا‌غ هم وي، خوندور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د مقام او فرصت غوښتنه د بشر یوه طبیعي غریزه ده، که څه هم په ټولو انسانانو کې نشته خو په کومو کسانو کې چې شته، هغوی ارام نه پرېږدي.
- خلک غواړي د سترو کسانو مېرمنو پسې تر حده زیاتې خبرې وکړي او تر هغه ډېرې یې بدنامې کړې چې په رښتیا دي.
- هنر داسې شی دی چې په دوستي او دښمني نه پوهېږي او کله خو داسې هم کېږي چې یو هنرمن د دښمنۍ په حال کې داسې اثر وپنځوي چې په دوستۍ کې یې نه شي کوی.
- شتمني انسان ډارن، بې حیثیته او محافظه کارۍ ته جوړوي. شتمن سړی وېرېږي چې که له خطر سره مخامخ شي، نو خپله شتمني به له لاسه ورکړي او بېوزله به شي.
- مرګ له وېروونکي خوبه را ویښېدل دي.
- که څوک ووایي زه ځان ډېر ښه پېژنم، بیا هم د دې وس نه لري چې ځان بشپړ وپېژني او کله نا کله به داسې کار هم وکړي چې وروسته نه شي پوهېدی ولې یې دغه کار کړی دی؟
- انسان فطرتاً په خیالونو کې ژوند کوي، تل راتلونکي ته هیله کوي او تصور کوي چې له پخوا څخه به ښه راتلونکی ولري، خو د انسان د بدبختۍ یو عامل دا دی چې له تېرو ترخو تجربو څخه درس نه اخلي او فکر کوي چې راتلونکی به په دې دلیل چې لا نه دی راغلی تر پخوا ښه وي.
- یو سړی له دې کبله چې نارینه دی، هېڅکله نه هوښیارېږي او تل به ماشوم او لېونی وي.
- د یوه ملت ډله ییزه خوشالي په دې کې ده چې په ګډه چیغې ووهي. بې له دې چې دلچسپې ولري، ولې نارې وهي او د نارو په وخت کې څه وایي؟ د دې خبرې لامل دا دی چې کله یوه ډله په ګډه نارې وهي، ځان مضبوط او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاوړی احساسوي او تصور کوي چې د یوه سپېځلي، ګډ او مشروع هدف لپاره نارې وهي.

- کله چې په ژوند کې څوک د خوشالي هیله نه شي کوی، هغه نه ډارېږي.
- د نړۍ خلک دوه ډوله دي: یوه ډله د عمر له پیله تر پایه بې وزله پاتې کېږي. دوی نه شي کوی چې د نورو د تاوان له لارې او د هغوی د وینو په زبېښلو سره د بډایتوب لاره پیدا کړي. دوهمه ډله هغه کسان دي چې د خلکو په تاوان او د هغوی د وینو د زبېښلو له لارې یې د بډایتوب لارې چارې زده کړې دي، که دغه ډله کسان پخپل ژوند کې شل ځله هم خپله شتمني له لاسه ورکړي، بیا به هم شتمن شي، ځکه پوهېږي چې په څه ډول باید د نورو په زیان، دوی شتمن شي.
- کله چې یو ځناور یا وحشي حیوان موړ شي، له نورو ځناورو سره بیا کار نه لري، مګر انسان چې وږی شي، بیا هېڅکله نه مړېږي.
- انسان په ژوند کې ډېر کلونه له ملګري پرته پاتې کېدی شي، خو د مرګ په وخت یوه ملګري ته اړتیا لري، په تېره بیا چې یو ستر کس او پاچا وي.
- هغه کس چې زموږ نصیحت ته د بې پامۍ له امله بدبخته شوی دی، د دې بې پروایي سزا یې په خپلې بدبختۍ سره تېر کړې ده، موږ یې باید اوس ونه رټو چې ولې دې زموږ نصیحت ته پام نه دی کړی.
- یو پیاوړی ګنهکار تر هغه له سزا خوندي وي چې قدرت ولري، خو کله چې کمزوری شو، بیا سزا ورکول کېږي.
- تر هغه چې انسان په یوه ستر کار لاس پورې نه کړي، ستره ګټه نه شي کوی او په سترو کارونو کې د تاوان احتمال ډېر وي.
- مرګ هېڅ درد نه لري. هر ډول درد او کړاو د ژوند له امله وي، نه د مرګ له امله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دلته څوک اعتراض نه کوي، ځکه خلک له لوږې په تنګ شوي وو او ملت هغه خره ته ورته وو چې بار کړی يې وي او د متروکې او چوکې په زور په يوه ناپايه سرک روان وي چې د ډېرې ستړيا له کبله خپل خاوند په لغته هم نه شي وهی.
- د انسانانو تر منځ هېڅ توپير نشته، ځکه چې ټول لوځ پيدا شوي دي. د هېچا په هکله بايد د هغه د پوستکي د رنګ، ژبې، جامو او ګاڼو پر بنسټ قضاوت ونه کړو، بلکې د انسان زړه ته بايد وکتل شي او د هغوی د زړونو په اساس قضاوت وشي، ځکه خو يو ښه سړی تر بد غوره دی او يو هوښيار کس تر ظالم ښه دی.
- که غواړئ پوه شئ چې ولې ټول انسانان سره يو شان دي او يو پر بل غوره نه دي، هغوی د بدبختيو او د رنځونو په وخت وازمايئ او د هغوی په هکله قضاوت وکړئ.
- عدل او ظلم داسې شيان نه دي چې هغه له يو بله بېل کړو، په نړۍ کې داسې قاضي نشته چې د عدالت او ظلم ترمنځ توپير وکړی شي.
- انسان داسې دی چې له خپل اوسني ژونده ناراضه وي او د تېر وخت ارمان کوي او يا فکر کوي، راتلونکی ژوند به يې تر ننني ژونده ډېر ښه وي.
- انسان له حقيقي پېښنو څخه افسانې ته ډېره ترجيح ورکوي. د بېلګې په ډول يو کيسه ويونکی چې خوله خلاصه کړي او کيسه پيل کړي، نو خلک پرې را ټولېږي. دوی ښه ګوري چې دغه کس پخپله په کوڅه کې په خاورو کې ناست دی، خو دوی ته چې وايي خزانې به ومومئ او شتمن به شئ، نو خلک يې پر خبرو باور کوي.
- انسان د پوهو کسانو د کتابونو په لوستلو نه اصلاح کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ځينې وخت د يوه کس د ژوند پيښې د هغه له نوم سره داسې اړخ لګوي چې خلک فکر کوي، نوم د انسان په برخليک کې ستر رول لري.
- انسان چې هر څومره بېوزله شي، خو کله چې خپل ماشومتوب ته ستون شي، د خوشالۍ ډېر شيان پکې موندلی شي او له دې اړخه شتمن او بې وزلي سره ورته دي.
- شتمن هغه څوک نه دی چې سره زر ولري، بلکې هغه څوک شتمن دی چې په لږو قناعت وکړي.
- زموږ هر شی زموږ د افکارو زېږنده وي، هغه کسان چې لوړ فکرونه لري او چمتو وي چې خپل افکار په خپل وخت عملي کړي يو ستر انسان دی.
- په هغه ټاټوبي کې چې دومره خوشبويه او ښکلې ونې وي، هېڅوک بدبخته نه دي. خو کله چې د مريبانو ټپي اندامونه مې وليدل نو پوه شوم چې دلته هم کم بختان پرېمانه دي.
- په عامو خلکو کې دغه خبره ډېره وي چې د عمر تېرېدل هېروي او دا نه په زړه کوي چې هر ماشوم لويېږي او د ځوانۍ پړاو ته رسېږي.
- يو رښتينی سړی له سختو حالاتو سره مخ کېږي، ځکه چې که رښتيا ووايـي نور خلک پرې اعتماد نه کوي.
- کله چې انسان له يوه هوسي پاچا سره وي بايد احتياط وکړي ځکه چې د پاچا نظر ناڅاپه بدلېږي.
- تر هغه چې احمقان دوکه نه شي او تاوان ونه زغمي، هوښياران به نه شي.
- کله چې يو کار بايد په بيړه ترسره شي، هر څومره چې پرې لږ خبرې وشي، ښه به وي، ځکه د ډېرو خبرو له امله ستونزې راولاړېږي چې په خلکو کې وېرې او شک ته لمن وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کله چې انسان د بدني زحمت تر څنګ له روحي پلوه هم تکليف وکړي نو بيا ډېر ستومانه کېږي.
- هغه ملت چې له وېرې او رعب سره مخامخ شي، هغه پوځ ته ورته وي چې له جنګه وړاندې يې ماتې خوړلې وي.
- سم او حق هغه شی دی چې زموږ له خوښې سره سم وي او ناسم او باطل هغه شی دی چې زموږ له خوښې سره سم نه وي. حق هغه دی چې شتمن يـې غواړي او ناسم هغه دی چې بېوزلي ورته ګروهمن وي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژوندراز

لیکوال: رحمت شاه فراز

ژوند یوه لوبه ده او د دې سیالۍ لوبغاړي موږ او تاسې یو. ځینې بریالي کېږي، خو ځینې بیا ماتې خوري. د ژوند سیالۍ له نورو سیالیو سره توپیر لري. هغه بریا چې موږ یې په عادي سیالیو کې لاسته راوړو د ژوند له هغې سره رغنده فرق لري.

د عادي سیالیو له بریالیتوب نه هغه څه لاسته راوړو چې نورو راته ټاکلي وي، خو د ژوند له بریالیتوب نه هغه څه ترلاسه کوو چې موږ یې هیله لرو او زموږ زړه غوښتي وي. د عادي سیالیو لپاره ښایي دومره زیار او هڅه ونه کړو، خو د ژوند سیالۍ را څخه تر وس زیاتې هلې ځلې غواړي ځکه زموږ هیلې او ارزوګانې وړې او عادي نه وي.

په دې سیالۍ کې به نه یوازې خپل او پردي له لاسه ورکوو، بلکې خپل ځان به هم له لاسه ورکوو.

بریا د انا له فنا سره تړلې. دواړه نه شي یو ځای کېدی، یو به خامخا له لاسه ورکوو.

له یوه عالم نه وپوښتل شوو چې د ژوندانه چارې مو ولې له عادت سره خلاف دي؟
ویې ویل: نه غواړم ورځنۍ چارې مې عادت وګرځي او خپلې موخې ته په رسېدو کې پاتې راشم.

د ژوندانه لپاره ارزو او اراده خورا اړین دي. که ارزو نه وي، اراده نه شو موندلی. او که اراده ونه لرو، بریالیتوب به مو په برخه نه شي. په ژوند کې د بریا راز د څنګیزو او آرو چارو له یو بله بېلول او آرو کارونو ته لاس اچول دي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر

**یوه ورځ پلار او زوی د غرونو په منځ کې یو چېرته روان وو. ناڅاپه هلک ولوېد، له خولې یې کریغه ووته: آه...**
**له مقابل لوري هم د ((آه)) غبږ راغی، ماشوم په دې کار ډېر حیرانه شو.**
**چیغه یې وکړه: ((ته څوک یې ؟))**
**له هغې خوا غبږ راغی: ((ته څوک یې ؟))**
**ماشوم په لوړ غبږ وویل: ((زه درسره مینه لرم!))**
**له بل لوري غبږ راغی: ((زه درسره مینه لرم!))**
**ماشوم بیا چیغه وکړه: ((لوده، بې عقله!))**
**له هغې خوا هم غبږ راغی: ((لوده، بې عقله!))**
**ماشوم نه پوهېده، چې څه روان دي. له خپل پلاره یې پوښتنه وکړه: پلاره! دا څه دي ؟**
**پلار وخندل او په لوړ غبږ یې وویل: ((ته اتل یې!))**
**له بل لوري هم همدا غبږ راغی: ((ته اتل یې!))**

**زوی یې بیا هم پوه نه شو، پلار یې خواته ورغی او ورته یې وویل: ((زویه! خلک دې ته ازانګه وایي، خو همدا د ژوند حقیقت دی. څه چې موږ کوو یا وایو، زموږ ژوند هماغه څه را کوي. خبره به داسې درته را لنډه کړم چې ژوند زموږ د خپلو کړنو انعکاس دی. که غواړې چې نړۍ مینه در کړي، نو په خپل زړه کې دې مینه پیدا کړه. که غواړې لوبډله دې پیاوړې او ځواکمنه اوسي، ځان پیاوړی او ځواکمن کړه. زموږ دا اړیکه په هر څه کې په همدې ډول ده، د ژوند په ټولو برخو کې. ژوند به هغه څه در کړي چې تا ژوند ته ورکړي وي. ژوند یوه پېښه یا حادثه نه ده، بلکې ستا خپل انعکاس دی.))**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بخيل

وايي په يوه کلي کې يو ډېر بخيل سړی اوسېده. ده هر هغه څه چې لرل، وپلورل او د سرو زرو يو ځراغ يې پرې واخيست. يو کډی يې وکيند او دا ځراغ يې پکې خښ کړ. بخيل سړی به هره اونۍ راته، کډی به يې را لوڅ کړ، ځراغ به يې را وايست، په لاس کې به يې تاو را تاو کړ، بېرته به يې په کډي کې کېښود او کډی به يې په خاورو پټ کړ. څه وخت همداسې تېر شو، يوه ورځ يوه غله دا بخيل سړی وليد چې کډی يې راوسپړه او يو څه يې ترې را و ايستل او بېرته يې پټ کړل. د دې لپاره چې ووينې چې دې سړي څه پکې اېښي دي، ورغی او کډی يې را لوڅ کړ، ويې ليدل چې د سرو زرو ځراغ دی. ځراغ يې ور واخيست او کډی يې بېرته په هماغه ډول پټ کړ. يوه اونۍ وروسته بخيل سړی بيا راغی، کډی يې را لوڅ کړ، خو ځراغ يې پکې ونه موند. په زوره زوره يې چيغې کړې، سر شکوونی يې جوړ او رمباړې يې پيل کړې. ګاونډي د ده چيغې واورېدې. د دې لپاره چې وګوري څه شوي، د بخيل سړي کور ته ورغی. بخيل سړي ټوله کيسه ورته تېره کړه. ګاونډي ورته وويل: ژاړه مه، زه به يو چل در وښيم. لاړ شه. يوه تېږه راوړه او په همدې کډي کې يې خښه کړه. هره اونۍ ورته راځه او همدا تېږه ګوره او بېرته ځه، ځکه تا ته سره زر او تيږه څه توپير لري، ته خو هسې هم ګټه نه ترې اخلې. لکه له خپلو سرو زرو دې چې دا دومره کاله هېڅ ګټه وا نه خيسته.

***

# مينه

دا کيسه د اوس وختونو نه ده، پخوانۍ کېسه ده. يو ځل يوې نجلۍ د خپل پلار طلايي رنګ کاغذ چې ډالۍ پرې پسولل کېږي، ضايع کړ. پلار د خپلې لور په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار ډېر زيات خفه شو او ويې وهله. په پلار يې پيسې ګرانې وې او ډېر زيات پرې خفه وو.

په هر حال، پلار يې د ونې لاندې ناست وو، لور يې ورته راغله او يوه ډالۍ چې په ښايسته کاغذه کې يې پېچلې وه، خپل پلارته ورکړه. پلار يې سخت خوشاله شو او خفګان يې له منځه ولاړ، خو کله يې چې وليدل، په قوتي کې هېڅ هم نه وو او يو تش ډبلی وو، نو غوسه او قهر يې لاپسې زيات شو او لور ته يې په غوسه کې وويل: نه پوهېږې چې کله څوک يو چاته ډالۍ ورکوي، په منځ کې يې بايد يو څه وي. نجلۍ په ژړغوني غږ چې سترګې يې هم له اوښکو ډکې وې، وويل: پلاره، نه يې وينې ؟ ډبلی تش نه دی، ما ستا لپاره خپله مينه پکې اېښې ده او دا ټوله مينه ستا لپاره ده. پلار يې په خپل کار پښېمانه شو. خپله لور يې په غېږ کې ټينګه ونيوله. د خدای کارونه دي، لور يې يو څه وخت وروسته مړه شوه. د نجلۍ پلار به دا ډبلی هر وخت د خپل بالښت لاندې ايښی وو ، ورته کتل به يې او له سترګو به يې اوښکې روانې وې.

کټ مټ همداسې، زموږ ملګري، زموږ د کورنۍ غړي او زموږ خدای له موږ سره ډېره زياته مينه لري، په ښکاره نه راته برېښي، خو که ورته ځير شو، ډېر څه شته چې د هغوی مينه پکې لټولای شو.

***

## باد او لمر

وايي يو وخت د باد او لمر تر منځ جنجال شو . باد ويل: زه له تا څخه زورور يم. لمر ويل: نه زه پياوړی يم. په همدې وخت کې دوی يو لاروی وليد چې ځان يې په يوه پټو کې پېچلی وو. دواړو پرېکړه وکړه چې که هر چا له دې لاروي څخه پټو ايسته کړ هغه پياوړی ده. دواړه په دې خبره رضا شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باد وویل لومړی زه زور ازمایم. باد خپل ټول زور وواهه چې له لاروي پټو وتښتوي او لرې يې ترې وغورځوي . مګر باد چې څومره زور واهه، هماغومره لاروي خپل پټو کلک نيولی وو، لنډه دا چې باد خپله ټوله هڅه وکړه خو بريالی نه شو.

د لمر نوبت راغی. لمر ورو وموسل. لاروي د ګرمۍ احساس وکړ پټو يې له ځانه لرې کړ او په لاس کې يې ونيو. لمر لږ نور هم وموسل او موسکا يې ورو په ورو ګرمېده، په پای کې لاروي بيخي ډېره ګرمي احساس کړه او فکر يې وکړ چې نور نو پټو ته اړتيا نه لرم او ايسته يې وغورځاوه. په دې ډول لمر له باد څخه زيات پياوړی شو.

**پند**: په زور هغه څه نه شي تر لاسه کېدای، چې په مسکا لاسته راتلای شي.

***

## بازاو توپان

آيا پوهېږئ کله چې توپان راځي نو باز مخکې له مخکې لا په دې پوه وي چې توپان به کله راځي؟ د توپان له راتلو مخکې باز يوه لوړ ځای ته ځي او د باد راتلو ته په تمه وي. کله چې توپان راشي، باز خپلې وزرې داسې وغوړوي چې توپان يې له ځانه سره والوزوي او د توپان له پاسه الوتنه پيل کړي. کله چې توپان ښکته ځي، باز د توپان له پاسه وي. توپان نه شي کولای چې باز له ځانه سره بل ځای ته يوسي. د توپان په وسيله باز کولای شي چې په آسانۍ سره لوړو لوړو غرونو ته ورسېږي. باز د هغو بادونو په واسطه چې توپان يې له ځانه سره لري، بره خواته ځي.

کله چې د ژوند توپان په موږ راشي او توپان ووينو، کولای شو د همدې توپان له پاسه الوتنه وکړو. که مو په خدای پوره باور او ايمان وي، نو توپان نه شي کولای چې موږ ته کوم تاوان ورسوي. موږ کولای شو د خدای په مرسته د توپان له پاسه حرکت وکړو. خدای موږ ته دا توانايي را کړې چې د توپان د بادونو له پاسه حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او الوتنه وکړو، هغه توپان چې له ځانه سره ناروغي، ماتې، خفګان، تاوان او ضررونه راوړي، موږ کولای شو پر هغو برلاسي او بریالي شو.

***

## د مورورځ

یو سړی د ګلانو پلورنځي ته ودرېد، غوښتل یې چې د خپلې مور لپاره یو ګل واخلي. د سړي مور له ده نه دوه سوه میله لرې اوسېده. له موټره را کوز شو، خو ویې لیدل چې یوه وړه نجلۍ د ګلانو د پلورنځي دباندې ناسته ده، ډېره خفه او غمجنه ده. سړی د هغې څنګ ته ورغی او په مینه یې ترې وپوښتل: ولې خفه یې؟

هغې وویل: غواړم مور ته مې یو ګل واخلم، پنځه اویا سېنټه لرم او ګل په دوه ډالره ده.

سړي ورته وویل: راځه.

پلورنځي ته ننوتل او د نجلۍ لپاره یې یو ګل واخیست، خو د ځان لپاره یې وانه خیست. نجلۍ ته یې وویل: آیا کولای شم تا تر خپله کوره په موټر کې ورسوم.

وړه نجلۍ خوشاله شوه، ویې ویل: هو، ته به هم له ما سره زما مور ته ورشې.

دواړه په موټر کې کېناستل، یوه هدیره را ورسېده.

نجلۍ وویل: موټر ودروه، بس همدلته.

نجلۍ له موټره ښکته شوه او په منډه ورغله په یوه قبر یې هغه ګل کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي چې دا ولېدل په سترګو کې یې اوښکې راغلې او په چټکۍ بېرته راغی، د ګلانو پلورنځي ته. د ګلانو یوه ښکلې ګېډۍ یې واخیسته او دوه سوه میله سفر یې وکړ او هغه ګلان یې خپلې مور ته ور ورسول.

***

## د بېلتون فلسفه

خلیل جبران

د اپرېل ښکلی او روڼ سهار دی. د لمر وړانګې له نویو غوړېدونکیو غوټیو سره لوبې کوي او د ګلبڼ اوسېدونکي د سهارني نسیم له عطرینو وږمو خمار خمار دي.

څلور خواوو ته د ډاډ پېر ده او د نوي ژوند خوږوالی دی.

خو آه، زه! زما ژوند خو اوس هم یو بې نوره سهار ته ورته دی. چوپ او غمجن، لکه له حد نه زیات د غوړېدلي ګل پاڼې چې خورې ورې وي.

له تا پرته! ښکلی ګلبڼ راته سپېره ښکاري او د سهار ښایسته او ګلالۍ څېره راته مړاوې برېښي.

په نړۍ د مازدیګر سوروالی خپور شو. لمر د خرما تر ونې شاته پټېږي او په هوا کې کیف او خوند را ټول دی.

په هر شي د ژوند لړزا راغلې لکه د باد په نرمو وږمو چې د ونو پستې څانګې نڅا کوي.

خو زما لپاره خو دا ماښام هم، د مني له غمجن مازدیګره کم نه دی. داسې احساس کوم لکه ذره ذره چې په خپل جانان کې ډوبه وي او د نړۍ ګلبڼ بې نوره دی... غوټۍ ژاړي او پاڼې په غم اخته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له تا وروسته ماته هر خوند له درده ډک ښکاري او د احساس له کړاوونو ځخه تيت او پاشلی يم.**

**په شنه اسمان شوخ ستوري ځلېږي. سپوږمۍ د سيند له څپو سره پټ پټانی کوي. د هغې رڼا ډاډ ببښونکې او روح خوشالوونکې ده.... خو نه پوهېږم، ولې؟ ماته دا محفل تت ښکاري او د سپوږمۍ ښکلې څېره د خړې شپې د چوپتياوو کلی او د خفګانونو استوګنه ده.**

**له تا وروسته زما د جذبو احساس رژل شوی. اوس يو بې کاره موجود دی او د لېوني د خوب په څېر يوه پرېشانه اروا.**

*****

## د لېوني فلسفه

**خليل جبران**

**د شپې په چوپتيا کې، هغه وخت چې په دېواله سيوري په خوځښت راشي لکه وېروونکي پېريان چې پرې ګرځي را ګرځي او د اغزنې ونې له منځه په يوه اواز چيغې او غوغا پيل کړي.**

**ژېړه سپوږمۍ په کفن کې د نغښتي جسد په څېر ښکاري او ستورو د ورېځو پردې ايسته کړې او په غمجنو سترګو را ګوري.**

**نو زما روح د خيالي نړۍ په لارو د الوتلو لپاره ناکراره شي او په نا مريي درو کې تا لټوي.**

**خو آه! هغه هلته تا ونه مومي او نه هم ستا د پښو کومه نښه وي چې ستا استوګنه ترې په ډاګه شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

آه! زما اروا! ستومانه، ماتې خوږلې او رټل شوې بېرته را وګرځې.

بیا! کله چې د خوب ښکلې ملکه ما په خپله غېږه کې ور پټ کړي تر څو د ژوند ستومانۍ د څو شېبو لپاره هېرې کړم او ترېخوالی یې له یاده وباسم.

خو آه! زما بخته! چې د ناهیلې اروا، ارمان خو اوس هم په کرار نه دی. هغه ستا په لټون کې په فضا کې الوځي را الوځي. د هغه بې وطنه مرغه په څېر چې د اوسېدو هېڅ ځای نه لري!

په هر کونج کې لټون کوي. خو آه! ته خو هېچېري هم نه ښکارې او نه ستا کومه خاطره پاتې ده! هغه په خپلې بدمرغۍ دومره ناکراره شي لکه د ساز په خاموشو تارونو کې غړېدونکې نغمه!

او بیا! زما ناهیلې او غمجنه اروا! ماتې خوږلې بېرته را وګرځې.

محفل ستا د خواږه یاد په اسرې او ستا د بېرته راتګ په تمه وي!

***

## د وخت فلسفه

خلیل جبران

د زمانې له اوښتونونو او پېچلتیاوو بې پروا روان دی. په خپل ځان کې ورک ورک او په خپل ځان کې ډوب! نه په نن کې د ده لپاره څه راښکون شته او نه له سبا سره کومه لېوالتیا لري؛ بس د فکر او خیال یوه ادا ده چې د یوه ناوسه بدن لپاره د روح ډاډ او د ژوند وروستی تم ځای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پسرلي له مستۍ ډک سهار وي او که د مني بې کيفه غرمه! د ناروغ فرياد وي لکه خفه موسم او که د مني د پاڼې په څېر مړاوی چاپېريال وي؛ هغه له دنيا او مافيها څخه ناخبره روان وي، د باد د څپو په څېر! اوس راغی او اوس بېرته ورک شو.

په کوچني پېټي کې يې ګلورينې خنداوې پټې دي او د اضطرار برېښناګانې پکې نغښتې دي! د اسرې څپې دي او د ناهيلۍ څاڅکي! له هغه سره د اسوېلو لوګي هم شته او د خوشاليو زېرمې هم.

ډېر کله داسې احساسوم چې طبيعت يې په سينه کې د زړه پنځول هېر کړي که نه نو دومره بې حسي، داسې بې پروايي چې نه يې د اوښکو توپان په غم لړلای شي او نه يې د خوشاليو انبارونه خوشالولای شي.

خدايه، په ساعتونو په همدې فکرونو کې يم چې اخر رښتينې خوښې يې په څه کې ده.

د سهار له لمر سره يو ځای يې سفر پيل شي. د غرمې په سوځوونکي لمر کې هم دوام لري او د ماښام په خړه هوا کې کله چې ټول خپلو خپلو کورونو ته روان وي، د نړۍ په پراختياوو کې را تاوېږي. د شپې د تيارو په سيورو کې الوت کوي او د هغه مرغه په څېر چې هېڅېرته يې هم د تيکاو ځای او ځاله نه وي.

خو له دې توپيرونو سربېره نازکخيال شاعر ورته په تمه او اديبان ورته سترګې په لار وي.

که څوک خوشاله وي او که غمجن او ولاړ! د هر چا لپاره د شوال د مياشتې غوندې راځي. د سندرې په څېر خوږ او د بوډۍ د ټال په څېر له تېر ايستونکو ښکلاوو سره.

او زما لپاره خو د هغه غږ! له هغه زرين ساز څخه کم نه دی چې د سهار په ښکلي وخت کې په عبادت ځايونو کې غږېږي. د هغه د پښو په ښکالو د روح ويده سازونه په کړنګېدو شي او د هغه راوړې پاڼې نيمايي ديدن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه! زما لپاره خو دا شتمني له نړۍ څخه هم ګرانبیه ده او د ژوندانه د ستومانیو غوره درملنه ده.

***

# وخت

لیکوال: محمد حسین ازاد

کتاب: نیرنګ خیال

یو زوړ عمر خوړلی انځور دی. په لاسونو کې یې د ښاپېریو غوندې وزرې دي ته وا په هوا کې الوتنه پرې کوي. په یوه لاس کې یې د ساعت هینداره نیولې چې د نړۍ خلکو ته پرې د خپل تګ خبرداری ورکوي. او په یوه لاس کې یې لور دی چې د خلکو د هیلو او ارمانونو کروندې او د ژوند شېبې پرې رېبي. یا ظالم وینه بهوونکی دی چې په خپل تګ کې پر هېچا هم زړه نه خوږوي. په خپل سر یوه کوڅۍ لري، هغه چې هوښیاران دي را وبه یې نیسي. خو د نورو کوڅۍشاته وي، د ده کوڅۍ بیا مخې ته. په دې کې نغوته دې ته ده چې تېر شوی وخت د چا لاسته نه راځي؛ هو، هغه چې ځیرک او وړاند-لیدونکي دي، که یې مخکې لا را ودروي، نو وبه یې دروي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قومونو فلسفه

خلیل جبران

قوم د هغو بېلا بېلو اخلاقو، عقیدو او افکارو لرونکو وګړو ټولګه ده چې یوه معنوي اړیکه یې له یو بل سره تړي... هغه معنوي اړیکه چې له اخلاقو زیاته قوي، له عقیدې زیاته ژوره او له فکر زیاته مهمه وي.

کله کله د دین یو والی د دې اړیکې یو تار وي خو دا تار دومره قوي نه وي چې نورې قومي اړیکې له منځه یوسي. هو، که دا اړیکې سولېدلې او کمزوره وي لکه په ځینو ختیځو هېوادونو کې چې لیدل کېږي، نو بیا جلا خبره ده.

کله د ژبې یو والی د دې اړیکې بنسټیز علت وي، خو ډېری داسې قومونه شته چې په یوه ژبه خبرې کوي، مګر د سیاست، حکومتي نظام او ټولنیزو اندونو له مخې د هغوی تر منځ ژور اختلاف وي.

کله دنیوي یو والی د دې اړیکې بنسټ وي، خو په تاریخ کې داسې بېلګې بې شمېره دي چې له مخې یې موږ ثابتولای شو چې بېلا بېلې هم-پښتنه قبیلې له یو بل څخه بېلې شوې او دا بېلتون د خپلمنځي شخړو، جنګونو، جګړو او په پای کې د زوال او فنا علت ګرځېدلای.

او کله مادي ګټې د یو والي لامل وي چې خپلوي پکې نغښتي وي، خو ډېری داسې ډلې شته چې هېڅ مادي ګټې نه لري پرته له نفسانیت او شخړو څخه.

ښه! نو بیا دا قومي اړیکه څه شی ده؟ او هغه کومه ځمکه ده چې د قومونو بتان پکې رامنځته کېږي؟

د قومي اړیکې په لړ کې زما یوه رایه دا ده چې مفکرین یې له دې امله عیبجنه ګڼي چې اصول او پایلې یې له محسوسو چارو سره اړیکه نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر حال زما نظر دا دی چې:

هره قبیله یو ټولنیز نفس وي چې د خپل جوهر او طبیعت له مخې له انفرادي نفس سره ورته والی لري. دا ټولنیز نفس د خپل وجود لپاره د قبیلو وګړو ته اړمن دی لکه څرنګه چې ونه د خپل ژوند لپاره اوبو، خاورې، رڼا او تودوخې ته اړتیا لري، خو بیا هم له قبیلو څخه خپل یو خپلواک وجود لري او د هغه یو ځانګړی ژوند او بېله اراده وي. خو لکه څرنګه چې زما لپاره د دې زمانې تشخیص او ټاکل ستونزمن دی چېرته چې انفرادي نفس پیدا کېږي، همدارنګه زما لپاره د هغې زمانې تشخیص او ټاکل هم سخت دی چېرته چې اجتماعي نفس رامنځته کېږي، مګر بیا هم دا اړینه ګڼم چې مثلاً د مصر قوم د نیل په غاړه د لومړني حکومت د بسنټ له ایښودلو څخه لږ تر لږه پنځه سوه کاله مخکې را څرګند شو او له همدې اجتماعي نفس څخه مصر په خپلو ټولو فني، مذهبي او اجتماعي څرګندونو کې مرسته واخیسته.

کوم څه چې ما د مصر په اړه وویل هماغه د اشور، ایران، روم، عرب او داسې نورو نوو قومونو په اړه هم صدق کوي.... له نوو قومونو څخه زما موخه هغه قومونه دي چې له منځنیو پېړیو څخه وروسته منځته راغلي دي.

ما ویلي دي او سم مې ویلي دي چې اجتماعي نفس یو ځانګړی ژوند لري او لکه څرنګه چې د هر ساکښ یو ټاکلی عمر وي په همدې ډول د اجتماعي نفس لپاره هم یو وخت وي چې له هغه څخه تجاوز نه کوي. او لکه څرنګه چې شخصي وجود له ماشومتوبه تر ځوانۍ، له ځوانۍ تر مشرتوب او له مشرتوب تر سپین ږیر توب پورې له بېلا بېلو پړاوونو څخه تېرېږي، په همدې ډول د ټولنیز نفس وجود هم د خوب له بوج څخه وارخطا سهار را پاځي؛ ورپسې د لمر له وړانګو څخه د غرمې تر رڼا پورې یون کوي او د بېزارۍ په جامو کې د ماښام تر را ښکاره کېدو پورې روان وي؛ په پای کې د شپې په چوپتیا کې د خوب ژور والي ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوناني قوم، د مسیح ع له زیږېدو څخه زر کاله وړاندې راویښ او له میلاد نه پنځه سوه کاله وړاندې له عروج او پرتم څخه یوې خواته شو. خو کله چې د مسیح ع وخت راغی او د بیا بیا پاڅېدو له خوبونو څخه ستړی او ستومانه شو؛ نو له تلپاتې خوبونو سره د غاړه غړی کېدو لپاره د خوب ځای ته ورسېد.

عربي قوم د اسلام له راتلو نه درې سوه کاله مخکې منځته راغی او په همدې زمانه کې یې د خپل شخصي وجود احساس وکړ تر دې چې کله د اسلام پیغمبر مبعوث شو نو عربي قوم د یوې بلا غوندې را پورته شو او د توپان په څېر یې هر هغه شی له منځه یو وړل چې په لاره کې یې د خنډ په څېر راتلل او بیا چې کله د عباسي خلفاوو دور راغی نو په هغه زر-ښه-لرونکي تخت کېناست چې یوه ښه یې په هند او بله یې په اندلس کې وه. خو کله چې د پرمختګ لمر یې په ډوبېدو شو او مغل قوم راڅرګند شو او له ختیځ څخه تر لویدیځ پورې خپور شو نو عربي قوم له خپلې ویښتیا څخه په تنګ شو او ویده شو او خوب یې دومره ژور خوب نه وو، سپک او معمولي خوب وو، څرنګه چې زه په ډاډ سره وایم چې هغه به بیا را ویښېږي او د هغه ټولو ځواکونو څرګنداوی به کوي چې د دې قوم تر نفس شاته پټ پاتې دي، کټ مټ هماغسې لکه رومي قوم چې د اټالوي غورځنګ په زمانه کې د رنسانس په نوم مشهور شو، بیا ځلې را ویښ شو او وینس فلورنسا او میلان کې یې خپلې هغه دندې بشپړې کړې د کومو پیل یې چې د توتاني قبیلو له یرغل څخه کړی وو.

په تاریخ کې چې څومره قومونه لیدل کېږي په هغو کې تر ټولو زیات عجیب او نا اشنا قوم د فرانسویانو دی چې د رامنځته کېدو یې دوه زره کاله کېږي خو تر اوسه پورې د ځوانۍ په زړه را ښکونکي پېر کې دی. په دې قوم کې نن هماغه د فکر لوړ والی، د لید چټکتیا او په علم و هنر کې پراختیا شتون لري چې د تاریخ په هر پېر کې یې د کمال پانګه وه، بلکې مبالغه به نه وي که وویل شي چې په دې خصوصیاتو کې یې څرګند پرمختګ کړی او لا یې هم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فردوا، کارير، شنيا، هيوګر، رينا، راسد، سيمونو او له دوی پرته د نولسمې پېړۍ ټول فرانسويان د هنر، علم او خيال پر اساس د نړۍ پر هر بل لوی شخصيت باندې برلاستيا لري.

موږ دلته غواړو يوه بله خبره هم زياده کړو چې د ځينو قومونو عمر د ځينو قومونو په پرتله ډېر اوږد وي څرنګه چې د مصر قوم درې زره کاله ژوندی وو، د دې پر خلاف يوناني قوم له زرو کلونو څخه زيات ژوندی پاتې نه شو. د قومونو د عمر د کموالي يا زياتوالي علتونه هم هماغه دي کوم چې د وګړو د عمر د کموالي يا زياتوالي دي.

خو د ژوند پر دريځ د خپلې برخې عمر له پای ته رسولو وروسته، پر قوم څه تېرېږي؟

آيا قوم راتلونکو نسلونو ته د خپل يادښت له پرېښودو پرته بل هېڅ شی هم نه پرېږدي او له نړۍ سره مخه ښه وکړي او آيا زمانه يې داسې له منځه يوسي، ګواکې چې هغه قوم هېڅ موجود نه وو؟

زما عقيده دا ده چې معنوي وجود بدلون کولای شي، خو فنا کېدای نه شي. هغه د مادي وجود په څېر له يوه څخه بل شکل او له يوې بڼې څخه بله بڼه غوره کوي، خو د هغه فطري ذرې له زمانې سره يو ځای پاتې وي. په دې اساس، د يوه قوم ټولنيز نفس ويده کېږي خامخا، خو د ګلانو په څېر په ځمکه کې خپل تخم وشيندي. پاتې شو د هغه قوم روح، نو هغه د ابدي عالم په لور پورته کېږي او زما په نزد قوم وي او که ګل، د هغه يوازې روح او بوی يې، حقيقت او مطلق جوهر وي. څرنګه چې شيب، بابل، نېنوا او اتن او د بغداد روح زموږ د ځمکې شاوخوا د ايتهر په پردې کې لا تر اوسه پورې شتون لري. بلکې زموږ د ارواوو په ژورو کې ځای لري او موږ له انفرادي او ټولنيز اړخه، د هر هغه قوم ميراث يو چې د ځمکې پر سطح را څرګند شوی دی؛ خو دا سپېڅلی ميراث تر هغه وخته په انفرادي يا ټولنيزه بڼه کوم ځانګړی صورت نه شي غوره کولای، تر څو چې کوم داسې قوم رامنځته نه شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول وګړي او ټولې ډلې په خپل ځان کې ور جذب کړي او په دې ډول يو هر اړخيز ټولنيز نفس رامنځته شي چې يو خاص ژوند او بېله اراده ولري.

***

# د خبرو فلسفه

خليل جبران

زما زړه له خبرو او خبرو کوونکو څخه تور شوی.
زما ارو‌ا له خبرو او خبرو کوونکو څخه ستومانه شوې.
زما عقل په خبرو او خبرو کوونکو کې له منځه لاړ.

سهار کله چې را ويښ شوم نو ومې ليدل چې خبرې زما چپرکټ ته څېرمه په ورځپاڼو او کتابګوټو کې ناستې او د دوکې او خباثت په سترګو راته ګوري.

زه له بسترې راپاڅېدم او په چاى سره د خوب د اغېز د لرې کولو لپاره د کړکۍ له خوا سره کېناستم. له ما سره يو ځاى خبرې هم پاڅېدې او په نارو سورو زما په مخ کې په نڅا شوې. له دې وروسته کله چې مې د چايو پيالې ته لاس اوږد کړ، نو هغو هم خپل لاس را وغځاوه او له ما سره د چايو په څښلو لګيا شوې. کله مې چې سګرټ ولګاوه، هغو هم ولګاوه؛ او کله چې ما ختم کړ او ومې غورځاوه، نو هغو هم وغورځاوه.

زه چې د کوم کار لپاره پاڅم، خبرې د سيورې په څېر په ما پسې وي. له ما سره پس-پسی کوي. زما تر سر شاوخوا ته بنګس کوي او زما د ذهن په تشو کې يوه غوغا را وپنځوي، خو کله چې وغواړم هغه وشړم نو په زوره وخاندي او بيا په پس-پسي، بنګس او غوغا کولو بوخت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې بازار ته لاړ شم، خبرې د هر دکان په دروازه ولاړې موممم. د هر کور په دېوالونو يې ګرځېدونکې را ګرځېدونکې وينم، د خلکو په څېرو کې يې وينم. په داسې حال کې چې دا خلک پټه خوله وي، خو زه خبرې د هغوی په خوځښتونو او چوپتياوو کې موممم، په داسې حال کې چې هغوی ناخبره وي.

کله چې له دښمن سره مخامخ شم، نو هغه وخت خبرې د ګل په څېر وغوړېږي، ټوټې ټوټې شي او د جرار لښکر شکل غوره کړي چې يو سر يې په ختيځ کې وي او بل يې په لويديځ کې. بيا کله چې زه له خپل دښمن څخه وتښتم، نو د هغه د خبرو غږ زما په ذهن کې غوغا جوړه کړي لکه څرنګه چې ناهضم شوي خواړه په معدې کې ناکراري پيدا کوي.

زه چې محکمو، پوهنتونونو او مدرسو ته ځم، نو خبرې د هغوی له پلار او ورور سره يو ځای وينم. هغوی ټولو د دروغو په څادر کې ځان نغښتی، د نيرنګ پټکي يې وهلي او د چلبازۍ چپړکي يې پښو کړې وي.

بيا کارخانو، ښوونځيو او ادارو ته ورشم او ګورم چې خبرې د خپلې مور، ترور او نيا تر څنګ ناستې وي او په خپلو غټو غټو شونډو ژبه را تېروي او هغوی ټول خبرو ته مسکي وي او په ما خندا کوي.

له دې وروسته که د صبر او ارادې يو څه قوت را پاتې شي، نو د ودانيو او عبادتځايونو ليدو ته ور ودانګم، خبرې هلته هم په ګدۍ ناستې برېښي، په داسې شان سره چې تاج يې په سر وي او په لاسونو کې يې ډېره ګرانبيه شاهي امسا وي.

او کله چې ماښام کور ته را ستون شم، بيا له هماغه خبرو سره مخامخ کېږم چې سهار مې د مارانو غوندې په څښېدو او د لړمانو په څېر نېښ وهونکې حالت ليدلې وي.

خبرې په هوا کې، خبرې په هوا پسې وي. په ځمکه او د ځمکې لاندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې د ایتهر په ځنګلو کې دي؛ د سیند په څپو، په سمڅو او ځنګلونو کې دي. د غرونو په هسکو کې دي. خبرې په هر ځای کې شته! نو بیا ارامتیا او سکون لټوونکي چېرته لاړ شي.

آیا په دې نړۍ کې د بې ژبو کومه ډله شته چې له هغوی سره یو ځای شم؟

آیا خدای د خپلې لورېینې له مخې، د غوږونو د دروندوالي ډالۍ راباندې پېرزو کولای شي چې د تلپاتې ارامتیا په جنت کې بریالی ژوند تېر کړم؟

آیا د ځمکې په دې پراخه او وسیعه کره کې داسې هېڅ کونج نشته چې د ژبې له چټیاتو ارام وي، چېرته چې نه خبرې پلورل کېږي، نه پېرل کېږي، نه چاته ورکول کېږي او نه منل کېږي؟ کاش! زه پوهېدلای چې په نړۍ کې داسې هم څوک شته دی چې د خبرو له لارې د ځان لمانځنه نه کوي!

کاش ماته په ډاګه وای چې په دې خاورینه نړۍ کې داسې انساني ډله هم اوسېږي چې خوله یې له الفاظو ډک د لوټمارو غار نه وي.

که د خبرو کوونکو یوازې یو ډول وای، نو موږ به ډاډه شوي وو او صبر به مو کړی وو، خو د هغوی دومره ډېر ډولونه دي چې شمېر یې نه شي کېدای.

یوه ډله خو یې د ((چنګښو)) ده چې ټوله ورځ په ډنډونو کې پراته وي او کله چې ماښام شي نو د ډنډ غاړې ته راشي او خپل سر له اوبو را وباسي او د شپې سینه له خپل ټرټر څخه ډکه کړي، چې په اورېدلو یې د غوږونو پردې په شکېدو شي او ارواوې ناکراره شي.

او یوه ډله د هغو ((میاشو)) ده؛ او میاشي هم د ډنډونو تولید دی چې د غوږونو شاوخوا بنګېږي. د هغوی له شوره ډکه مګر سپکه شیطاني بنګا هغه ده چې د ازار رسولو جذبې زېږولې او سخت نفرت روزنه ور کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یوه ډله د هغو ((زندرګړو)) ده؛ او دا یوه عجیبه او نا اشنا ډله ده چې هر تن یې په باطن کې یوه تیره لري، چې کله وخرخول شي نو یو داسې دوزخي شور او زوږ ترې وزیږي چې د هغه له ورو څخه ورو غږ هم د مېچني له ګړزا زیات دروند وي.

او یوه ډله د هغو ((غویانو)) ده چې خپله خېټه له وښو ډکه کړي او د کوڅو او سړکونو په چوک ودرېږي او فضا په خپلو ټېغونو دومره نه زغمل کېدونکې کړي چې که ډېر نازک ټېغ هم وي نو بیا هم د غوا له ټېغ څخه زیات بد لګېږي.

او یوه ډله د هغو ((کونګانو)) ده چې خپل وختونه په دښتو او هدیرو کې تېروي او د تیارې ارامتیا او چوپتیا په هغو نارو او سورو بدله کړي چې تر ټولو خوندوره برخه یې هم د کونګ له غږ څخه ډېره غم راوړونکې وي.

او یوه ډله د هغو ((اره کښو)) ده چې ژوند ورته د لرګیو د نه اره شوو ټوټو غوندې ښکاري او خپل ټول وخت د دې ټوټو په اره کولو او ټوټه کولو کې تېروي. د هغوی د دې کار له امله یو عجیبه شور رامنځته کېږي چې که ډېر زیات خوږ هم وي نو د ارو له شور څخه زیات ناوړه وي.

او یوه ډله د هغو ((ډمانو)) ده چې خپلې ارواوې په لویو لویو لرګیو دربوي او د هغوی له تشو خولو داسې شور را پورته کېږي، که ډېر سپک هم وي نو د ډول له غږ څخه ډېر پرېشانه کوونکی وي.

او یوه ډله د هغو ((ژوونکو)) ده، چې هېڅ کار او بوختیا نه لري، پرته له دې چې چېرته ځای ووینې، هلته کښني. دا خلک خبرې ژویي او ډېرې خو یې ویلای هم نه شي.

او یوه ډله د هغو ((ټوکمارو)) ده چې د خلکو غیبت کوي، په خپلو منځونو کې د یو بل غیبت کوي، بلکې په بې شعوره ډول پخپله خپل غیبت کوي او دې غیبت ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړتیا نوم ورکوي. په داسې حال کې چې وړتیا د جدیت یو ډول دی خو هغوی په دې نه پوهېږي.

او یوه ډله د هغو ((ټوکر اوبدونکو)) ده چې هوا په هوا سره اوبي، حال دا چې بیا هم لوڅه او بربنډه پاتې وي.

او یوه ډله د هغو ((شارو ګانو)) ده چې په اړه یې یو شاعر وایي: کله چې الوتونکی والوت نو داسې مې وګڼل لکه شاهین چې والوت.

او یوه ډله د هغو ((ساعتونو)) ده چې خلک د عبادتځایونو په لور ور غواړي، خو پخپله نه ور ننوځي.

له دې نه پرته ډېرې نورې ډلې هم شته چې لا تر اوسه د شمېر او تعریف له بریدونو هاخوا دي. زما په فکر کې په هغه ناپېژانده ډلو کې تر ټولو زیاته عجیبه ډله د هغو ویدو ډله ده چې له خپلو زېرمو څخه یې په فضا کې غوغا جوړه کړې ده، خو پخپله ور څخه ناخبره دي.

***

## د ناروغۍفلسفه

خلیل جبران

زما یو غاښ چینجي وهلی چې ډول ډول درد کوي. د ورځې په غوغا کې په ډاډ ناست وي او د شپې په چوپتیاوو کې کله چې د غاښونو ډاکټر د ارامه خوب په مزو کې وي او درملتونونه تړلي وي..... په ناکرارۍ را پاڅېږي.

یوه ورځ، کله مې چې د صبر کاسه را ډکه شوه، د غاښونو یوه ډاکټر ته ورغلم او ورته ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((دا غاښ مې وباسه، د خوب خوند يې را باندې حرام کړی او د شپې ارامتيا او ډاډ يې را باندې په درد او کړاو بدل کړي.))

ډاکټر سر وښوراوه او ويې ويل:

((ناپوهي به وي که موږ دا غاښ وباسو، په داسې حال کې چې درملنه يې کېدای شي.))

ډاکټر، د غاښ له يوې او بلې خوا خرل پيل کړل او ريښې يې ور پاکې کړې. د عجيبه عجيبه طريقو له کارولو وروسته چې کله په دې باوري شو چې په غاښ کې اوس چينجی نه دی پاتې، نو سوری يې په يو خاص ډول سرو زرو ډک کړ او په وياړ يې وويل: ((اوس ستا دا غاښ له روغو غاښونو څخه زيات قوي شو.))

ورسره ومې منله او جېب مې له اشرفيو ور ډک کړ او په خوشالۍ خوشالۍ راغلم، خو لا يوه اونۍ نه وه وتلې چې بدبخته غاښ بيا درد پيل کړ او زما د روح نغمې يې بيا مرګ ته د نږدې خلکو په خرا او د دوزخ په نارو او سورو بدلې کړې.

دا ځل بل ډاکټر ته ورغلم او په ډېر احتياطمن ډول مې ورته وويل:

((دا خطرناک زرين غاښ وباسئ... هېڅ ډول زړه خوږی مه پرې کوئ، ځکه چې د کاڼو ژوونکی د هغوی له شمېرونکو سره توپير لري.))

ډاکټر غاښ را و ايست، هغه شېبه که څه هم د درد او تکليف له مخې ډېره کړاومنه وه، خو په حقيقت کې مبارکه وه.

د غاښ له ويستلو او له بشپړې پاملرنې وروسته ډاکټر وويل:

((ډېر ښه کار مو وکړ... چينجيو په دې غاښ کې په ډېر ښه ډول ريښې کړې وې او د هغه د ښه کېدو هېڅ تمه نه وه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن شپه ډېر ارامه ويده شوم... اوس هم په ارام يم او د غاښ پر ايستلو د خدای شکر پر ځای کوم.

د انساني ټولنې په خوله کې ډېر غاښونه دي چې چينجيو خوړلي دي او دا ناروغي دومره زياته شوې چې تر وروستي بريده رسېدلې، خو انساني ټولنه له دې تکليفونو څخه د ځان ساتلو لپاره غاښونه نه وباسي، بلکې يوازې په ډکولو او پټولو يې بسنه کوي او له پاکولو وروسته يې سوري په ځلېدونکو سرو ډک کړي او بس!

ډېری ډاکټران شته چې د انسانيت د غاښونو درملنه، د سترګو غولوونکو سرو زرو د اوبو او ځلېدونکو موادو په وسيله کوي او ډېری ناروغان دي چې خپل ځان دې اصلاح غوښتونکو ته سپاري او د ناروغۍ کړاو تېروي او په همدې فرېب و دوکه کې مړه شي.

بيا هغه قوم چې يو ځل ناروغ او مړ شي، بيا نه راژوندی کېږي چې نړۍ ته د خپلو معنوي مرضونو علتونه او د هغو ټولنيزو درملو حقيقت بيان کړي چې په استعمال يې قومونه د زوال او نېستۍ تر پولې رسېږي.

—

د شام د قوم په خوله کې خوسا، تور، خيرن او بوين غاښونه دي، زموږ ډاکټرانو وغوښتل چې هغه پاک کړي او سوري يې په ځلېدونکو موادو ور ډک کړي او پورته پرې د سرو زرو اوبه ورکړي، خو ناروغي ترې ورکه نه شوه او هېڅ کله نه شي ورکېدای، تر څو چې هغه غاښونه ونه ايستل شي. د کوم قوم په غاښ کې چې مرض وي، د هغه بيا معده هم کمزوره کېږي او ډېر داسې قومونه شته چې د هاضمې له خرابوالي سره لاس او ګرېوان او د مرګ خولې ته رسېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک د شام چینجیو وهلی غاښ لیدل غواړي، نو باید هغو مدرسو ته سر ور ښکاره کړي چېرته چې راتلونکی انسان هغه مسایل زده کوي چې اخفش له سبویه څخه نقل کړي دي او سبویه له سائق اظعان څخه.

یا دې محکمو ته ور وګرځي، چېرته چې ظاهري ښکلا، درواغ او ریا کاري ده.

یا دې د غریبانو خېمو ته  ورشي، چېرته چې وېره، بې زړه توب او ناپوهي خوره ده.

او له هغه وروسته دې هغو نازک-ګوته د غاښونو ډاکټرانو ته ور شي چې نرۍ الې او د بې هوښۍ درمل ورسره وي او د چینجي وهلو غاښونو د سوريو په ډکولو، د هغوی د لمدو ریښو په پاکولو خپل وخت تېروي. کله چې کوم څوک له هغوی سره خبرې کوي او د هغوی له وینااوو څخه برخمن کېدل غواړي، نو هغوی به له لویو خطیبانو څخه ومومې، چې ژبې یې د فصاحت او بلاغت بحرونه وي؛ هغه چې ډلې جوړوي، غونډې کوي او په غونډو کې د خطابت په زور اورونه بلوي؛ هغه چې په تقریرونو کې یې نغمه وي، هغه نغمه چې د اوړو د ژرندې له نغمو څخه زیاته لوړه او د جولای په شپو کې د چنګښو له ترټرا څخه ډېر زړه راښکونکې وي.

د شام قوم د خپل ژوند خواره په چینجي خوړلو غاښونو ژویي، له همدې یې په هره مړۍ کې زهرجنې لاړې وي او دې زهرجنو لاړو کابو د دې قوم ټولې کولمې ور ببکاره کړې دي.

کله چې څوک ورته دا خبره وکړي، نو هغوی یې په ځواب کې فرمايي: ((هو، د دې لپاره موږ د یوه نوي درمل په اختراع کولو بوخت یو، چې ډېره بې هوښي راوړي.))

او ویونکی چې کله دا ورته وايي چې: ((د دې غاښونو د ایستلو په اړه څه نظر لرئ؟))

نو هغوی په کړس-کړس وخاندي او دا یوازې په دې چې هغوی د غاښونو غوره درملنه نه ده لیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوښتنې په تکرارولو هغوی پاخېږي او د بېزارۍ په لهجه خپل زړه ته ووايي: ((په نړۍ کې څومره د فکر خلک دي او څومره بې بنسټه دي د دوی فکرونه.))

***

# د غم فلسفه

خلیل جبران

زما خپلوان مړه شول او زه د ژوند په زندان کې بندي، د یووالي او یوازیتوب په نړۍ کې په هغوی وير کوم.

زما ملګري له ما بېل شول او زما ژوند له هغوی وروسته د غم او درد وياند انځور وګرځېد.

زما خپلوان او ملګري د مرګ په خوب ویده شوو او زما د هېواد غرونه په اوښکو او وینو کې ولمبېدل. خو زه دلته همداسې ژوند تېروم لکه څرنګه چې د ژوند په خوندونو او د لمر له وړانګو څخه په روښانه غرونو له لوبو کوونکو خپلوانو او ملګرو سره مې تېراوه.

زما خپلوان د لوږې له لاسه مړه شول او څوک چې پاتې شول په توره له منځه یو وړل شول خو زه د هغو خلکو ترمنځ ګرځم راګرځم چې خوشاله دي، په خپل کار خوښ دي، له ښو نه ښه خواړه خوري، له غوره نه غوره شراب څښي او له اعلی نه په اعلی چپرکټونو ویده کېږي؛ هغه چې له ژونده خوشاله وي او ژوند ترې راضي وي.

زما خپلوان ډېر د ذلت او سپکاوي په مرګ مړه شول خو زه دلته په ارامتیا او ډاډ ژوند تېروم او همدا هغه تراژیدي ده چې زما د اروا په درېځ لوبول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زه په خپلو ورو خپلوانو کې ورې وای یا له خپل مظلوم قوم سره مې ظلم او ځور زغملای وای، نو د دواړو فشار به زما په سینه دومره سخت نه وو او شپې به زما په سترګو کې دومره توري نه وې، د دې لپاره چې ځوک چې په مصیبت او بې وسۍ کې خپلو خپلوانو ته لاس ورکوي هغه یو داسې سپېڅلی ډاډ احساسوي چې د خپل وجود لپاره د شهادت د ولولې ارمانجن وي بلکې په خپل ځان ویاړ کوي. زه له بې ګناه سره بې ګناه مړ کېږم، خو زه له خپل ورې او مظلوم قوم سره نه یم په داسې حال کې چې هغه د مرګ له جلوس سره یو ځای د شهادت د عروج په لور روان دي خو زه دلته، اووه سینده را دې پلو، د ډاډ په سیوري او د امن په ټاټوبي کې ژوند تېروم.

دلته زه له مصیبت او مصیبت ځپلو ځخه لرې یم او په هېڅ شي حتی پخپلو اوښکو هم فخر نه شم کولای.

یو مسافر، چې له خپل هېواد ځخه میلونو لرې وي، له ورو خپلو او خپلوانو سره څه کولای شي؟

کاش زه پوهېدای، د شاعر ویر او ماتم څه ګټه لري؟

که زه د خپل هېواد په خاروه کې د غنمو بوټی وای، نو وږي ماشوم به ور مات کړی وم او زما په دانو به یې له خپلې سینې ځخه د اجل لاسونه ایسته کړي وای.

که زه د خپل هېواد په باغونو کې پخه مېوه وای، نو وږې ښځې به خوړلای وم او د خپلې ګېډې اور به یې پرې مړ کړی وو.

که زه د خپل هېواد د هوا مرغه وای، نو وږي سړي به ښکار کړی وم او زما په بدن به یې له خپل وجود ځخه د قبر سیوری لرې کړی وو.

خو آه! څومره د بې وسۍ او افسوس ځای دی چې زه نه د شام د پټیو د غنمو بوټی یم، نه د لبنان د درو پخه مېوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدا هغه خاموشه پیل دی چې زه یې پخپله د خپل ځان او د شپې د سیورو په وړاندې سپک کړی یم. همدا هغه له درده ډکه کیسه ده چې زما ژبه او لاسونه یې را تړلي او په وړاندې یې په دې حالت کې ودرولی یم چې نه له ماسره هوډ او اراده شته او نه عمل.

—

خلک ماته وایي:

ستا د هېواد ویجاړتیا څه ده، پرته د نړۍ د یوې ناڅیزې برخې د ویجاړۍ څخه او هغه اوښکې او وینې چې ستا په هېواد کې وبهېدې، څه دي؟ پرته د اوښکو او وینو له یو څو څاڅکو څخه چې شپه و ورځ د ځمکې د کرې له ډاګونو او درو څخه را توکېږي!

رښتیا دي! خو زما د هېواد ویجاړۍ، خاموشه بربادۍ ده. زما د هېواد ویجاړتیا هغه ګناه ده چې په پایله کې یې ماران او ښاماران زېږي، زما د هېواد ویجاړتیا هغه تراژیدي ده چې نه پکې نغمې شته او نه منظرې.

که زما قوم د بې ایمانو ټګمارو چارواکو پر خلاف سرکښي کولای او د سرکښۍ په جرم وژل شوي وای، نو ما به دا ویل چې د خپلواکۍ په لاره کې مړ کېدل د غلامۍ په سیوري کې له ژوند کولو څخه غوره دي او کوم شخص چې توره په لاس مرګ ته غېږه ورکوي، هغه له حق سره یو ځای ژوندی وي.

که زما هېواد په قومي جنګ کې برخه اخیستي وای او یو یو بچی یې په جنګ کې په درد خوړلی وای، نو ما به ویل چې زما قوم یو توند او تېز توپان دی چې په خپل قوت سره شنې او وچې څانګې یو ځای ماتوي او له منځه وړي او په توپاني څانګو کې له منځه تلل، د زړبودۍ په غېږه کې له مرګ څخه غوره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په نړۍ کې کومه سخته زلزله راغلې وای چې له کبله یې زما هېواد له یوې مخې چپه شوی وای او زما خپلوان او ملګري په خاوره کې مړه شوي وای نو ما به ویل: دا پټ قوانین دي چې په حرکت کې د راوستلو مسؤلیت یې هغه قوت دی چې له انساني قوتونو څخه پورته او لوړ دی. په دې توګه، ناپوهي به وي چې موږ د هغو په رازونو د پوهېدو هڅه وکړو.

خو زما نږدې خپل او خپلوان د بغاوت په جرم کې نه دي مړه، د ازادۍ په لاره کې د جهاد په کولو نه دي شهیدان شوي او د دوی هېواد زلزلې نه دی ویجاړ کړی، بلکې دوی د غلامۍ ګناه وژلي دي.

زما خپلوان په دار وخېژول شول.

دوی مړه شول او په داسې حالت کې چې د دوی لاسونه ښي او کېڼ لوري ته خواره شوي وو او سترګې یې د فضا په تیارو کې خښې وې!

دوی مړه شول او د بې ژبۍ او چوپتیا په حالت کې مړه شول، ځکه چې د انسانیت غوږونه د هغوی له چیغو او نارو څخه بند وو.

هغوی مړه شول د دې لپاره چې له خپلو دښمنانو سره د ډارنو غوندې مینه او له خپلو مینه والو څخه د بې دینو په څېر نفرت یې نه شوای کولای.

هغوی مړه شول د دې لپاره چې ګنهکاران نه وو.

هغوی مړه شول د دې لپاره چې هغوی په ظالمانو ظلم نه وو کړی.

هغوی مړه شول ځکه چې هغوی امن خوښاوه.

هغوی مړه شول او په دې هېواد کې وږي مړه شول چېرته چې د شیدو او شاتو ویالې بهېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی مړه شول د دې لپاره چې دوزخي ښامارانو د هغوی د پټیو ټول ځناور او د مودي کورنیو ټوله غله تر ستوني تېره کړه.

هغوی مړه شول د دې لپاره چې مارانو دا فضا په خپلو زهرو سره زهرجنه کړه، هغه فضا چې د یاسمین، ګلاب او نښتر په بویونو معطره وه.

اې د شام اوسېدونکو! زما او ستاسې خپلوان او نږدې خپل مړه شول، راوښیئ چې اوس موږ له هغوی سره څه کولای شو چې د مرګ له منګولو څخه ژغورل شوي دي.

زما سلګۍ د پېښېدونکو مخه نه شي نیولای او زموږ اوښکې د هغوی سخته تنده نه شي خړوبولای.

نو بیا موږ هغوی له لوږې او تندې څخه څنګه وژغورو؟

آیا موږ د شک او تردد، غفلت او بې پروایـۍ په حالت کې په دې درد ناکې پېښې سترګې پټې کړو او د ژوند په سپکو او عادي کارونو کې بوخت اوسو؟

اې زما شامي وروره، هغه جذبه، چې تا د ګور پر غاړه د خپل ورور د مرستې لپاره هڅوي، یو بې ساری امتیاز دی چې تا د ورځې له رڼا او د شپې له تیارې څخه د برخمن کېدو حقدار بولي.

***

## د ټوکر مجسمه

خلیل جبران

یوه ورځ مې په کروندې کې له ټوکر جوړې مجسمې ته وویل: ته به په دې کروندې کې ولاړه ولاړه ستومانه شوې یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغې وويل: د ځناورو د وېرولو خوند دومره ژور او دوام لرونکی دی چې هېڅکله هم نه ترې ستړې کېږم.**

**له يوې شېبې فکر وروسته مې وويل: دا رښتيا دي ځکه چې ما هم د دې خوشالۍ خوند څکلی دی.**

**هغې وويل: هو، هغه خلک چې بدن يې له بوسو او وښو ډک وي، له دې خوند سره ښه بلدتيا لري.**

**د دې په اورېدو له هغه ځايه روان شوم، خو په دې نه يم خبر چې هغې زما ستاينه وکړه او که په ما يې ملنډې ووهلې.**

**يوه موده تېره شوه او په دې موده کې له هغې مجسمې فيلسوف جوړ شوی وو.**

**او کله چې بيا د هغې تر څنګ تېر شوم، ومې ليدل چې پر هغې دوو کارغانو ځاله جوړه کړې ده.**

*******

# دوه ښځې

**خليل جبران**

**زه چې په کوم کلي کې وزېږېدم په هغه کې يوه ښځه او يوه يې لور اوسېده. دا دواړه د کابوس په ناروغۍ اخته وې.**

**يوه شپه چې په ټوله نړۍ چوپتيا خوره وه، مور او لور مې وليدلې چې د خوب په حالت کې په خپل باغ کې ګرځېدې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور، خپلې لور ته وویل: ((همم، زه پوه شوم چې زما هغه دښمنه ته یې چې زما ځواني یې تباه کړه. هو، همدا ته یې چې زما د ژوند په کنډوالو یې د خپل ژوند ودانۍ جوړه کړې. ای کاش! چې ته مې وژلای شوای.))

نجلۍ ورته وویل: ((اې کرکجنې او ځانغوښتونکې زړې بوډۍ! ته یې چې زما او زما د خپلواک فطرت ترمنځ خنډ یې او غواړې چې زما ژوند له خپل مړاوي ژوند سره یو شان کړې. اې کاش! خدای دې مرګ په نصیب کړه.))

په دې وخت کې یوه چرګ اذان وکړ او دواړه ښځې را ویښې شوې، زړې په ډېرې مینې خپلې لور ته وویل: ((ایا دا ته یې زما د ځیګر ټوټې!))

او نجلۍ په ډېره مینه ځواب ورکړ: ((هو زما ګرانې مورې!))

***

## د واده ژوند

خلیل جبران

په شواکس ښار کې یو شهزاده اوسېده. ټولو له هغه سره ډېره مینه کوله. نارینه، ښځې او ماشومان تر دې چې له ځړځایونو به شپانه هم د هغه ستړي مشي ته راتلل!

خو خلکو فکر کاوه چې د شهزاده ښځه ورسره هېڅ مینه نه کوي. ښایي ښځه به یې له ده کرکه کوي.

یوه ورځ د ګاونډي حکومت شهزۍ د شواکس له شهزۍ سره لیدو ته راغله. دواړه تر ډېره یو ځای ناستې وې او له یو بل سره یې د زړه خواله کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خبرو خبرو کې يې خبره تر شهزاده ګانو پورې ورسېده. د شواکس شهزۍ په احساساتي ډول وويل:

((زه ستا د واده په ژوند رخه کوم، ستا او ستا د شهزاده پر خوشالۍ باندې. حال دا چې زما پر واده ښه پرېمانه موده تېره شوې ده، خو که رښتيا رانه وپوښتې نو زه خو له خپل مېړه کرکه کوم هغه يوازې زما خو نه دی؛ زما غوندې بد مرغه ښځه به په دې درسته نړۍ کې نه وي.))

نو مېلمه شهزۍ هغې ته وکتل او ويې وويل:

((که له ما وپوښتې نو په حقيقت کې يوازې همدا ته له خپل مېړه سره رښتيني مينه کوې ځکه چې ستا په سينه کې لا تر اوسه د مينې تنده پاتې ده. هغه تنده چې له امله يې د ښځې ښايست پاتې وي، کټ مټ هماغسې لکه د ګلونو له امله د بڼ پسرلی...

خو د رحم وړ دی زما حالت او زما د خاوند چې موږ صبر کړی او يو بل زغمو. يوازې خپله نکاح پالو او زموږ په ژوند تاسې او نور خلک تېروتي ياستئ چې له وياړ ډکه خوشالي او خوښي پرې کوي.))

***

# ستوکه

خليل جبران

يوه ورځ ستوګې وويل: زه له دې درو ور هاخوا په شنې لړې کې پوښل شوی غر وينم. آيا هغه ښايسته نه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غوږ واورېدل او له لږ ځنډ فکر وروسته يې وويل: غر چېرته دی؟ زه خو د هغه غږ نه اورم.**

**بيا لاس وويل: زه د هغه د لمس او احساس کولو بې ځايه هڅې کوم. هېڅ غر مر نشته دی.**

**پوزې وويل: دلته هېڅ غر نشته ځکه چې زه يې بوی نه شم احساسولای. سترګې خپل پام بل خوا ته واړاوه او بيا درې واړو د سترګو په حيرانوونکو تصوراتو بحث پيل کړ.**

**ويې ويل: ښکاري چې سترګه لېونۍ شوې ده.**

*******

# ګيدړه

**خليل جبران**

**يوې ګيدړې د سهار په وخت کې په خپل سيوري سترګې واچولې او ويې ويل چې: ((نن زما د سهارنۍ لپاره بايد يو اوښ را پيدا شي.))**

**ګيدړه ټول سهار د اوښ په لټه پسې سرګردانه - سرګردانه ګرځېده، خو کله چې غرمه يې خپل سيورى بيا وليد نو ويې ويل: ((زما لپاره خو به يو موږک هم بس وي.))**

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لېونۍاوبه

خلیل جبران

د وختونو خبره ده چې په یوه ښار کې چې نوم يې بربادي وو، یوه پاچا حکومت کاوه. دا پاچا ډېر زړور او هوښيار وو. د پاچا د زړورتیا له امله خلک ترې وېرېدل، خو بل خوا د هوښیارتیا له امله يې بيا مينه ورسره کوله.

د دې ښار په منځ کې یو کوهي وو چې اوبه يې يخې او د ملغلرو په څېر رڼې وې. د ښار ټولو خلکو، بلکې په خپله پاچا او د دربار غړو هم له همدې کوهي څخه اوبه څښلې. ځکه چې له دې پرته په ښار کې بل کوهي نه وو. یوه شپه کله چې ټول خلک په خواږه خوب ویده وو، یوه کوډګره ښار ته راننوته او د عجيبه درملو اوه څاڅکي يې په کوهي کې واچول او ويې ويل: ((له دې وروسته هر څوک چې دا اوبه وڅښي لېونی کېږي به.))

په سبا ورځ پاچا او د هغه له وزیرانو پرته د ښار ټولو اوسېدونکو د کوهي اوبه وڅښلې او د کوډګرې له وړاندوينې سره سم ټول لېونيان شول.

په دې ورځ د ښار په کوڅو او بازارونو کې خلکو د یوه بل په غوږ کې همدا ویل چې زموږ د پاچا او وزير اعظم ماغزه خراب شوي او موږ د دې لېوني پاچا حکومت نه شو زغملای او باید له تخته يې را وغورځوو.

کله چې ماښام شو نو پاچا د سرو زرو په یوه لوښي کې له دې کوهي څخه اوبه راوغوښتې کله چې اوبه راغلې، نو په خپله يې هم وڅښلې او بيا يې په وزير اعظم هم وڅښلې. د بربادي په ښار کې د خوښۍ مېلې جوړې شوې، ځکه چې خلکو وليدل چې د دوی د پاچا او وزير اعظم دماغ بېرته ښه شوی دی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوړې ارادې

**خلیل جبران**

**درې سړي په یوه قهوه خونه کې را یو ځای شول. په دوی کې یو ټوکر پلورونکی، یو نجار او دریم یې منجور (قبر کینونکی) وو.**

**ټوکر پلورونکي وویل: نن مې ډېر اعلی کفن په دوو اشرفیو پلورلی. راځئ، ټول ښه په مړه ګېډه شراب وڅښو.**

**نجار وویل: ما نن ډېر غوره تابوت پلورلی دی، ځکه نو له شراب سره به شامي کباب هم وخورو.**

**منجور وویل: ما نن یوازې یو قبر کینلی دی، خو د مړي وارثانو ماته دوه چنده پیسې راکړې. راځئ، لږ ګلاب جامن هم ورسره را وغواړو.**

**د شپې په قهوه خونه کې تر ډېرو مزې-چړچې روانې وې او درې واړو شراب، کباب او ګلاجامن نوش جان کول، ځکه چې درې واړه خمار او خوشاله وو.**

**د هټۍ څښتن په خوښۍ خپلې ښځې ته کتل، ځکه چې د هغه ګیراکانو بې دریغه لګښتونه کول.**

**کله چې له قهوه خونې څخه راووتل، سپوږمۍ پورته شوې وه.**

**درې واړو پر سرک سندرې ویلې، په لوړ غږ یې خبرې کولې او روان وو.**

**هټیوال او مېرمنه یې د قهوه خونې په دروازه کې ولاړ وو، هغوی ته یې کتل.**

**مېرمنې یې وویل: دا خلک څومره ازاد، خوښ او خوشاله دي که دوی هره ورځ همداسې راشي، نو زموږ زوی هېڅ اړتیا نه لري چې د شرابو په هټۍ کې سر وخوږوي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې مور پخپلو عوایدو ښې لوړې زده کړې ور باندې کولای شو او یو لوی عالم ترې جوړېدای شي.

***

## د وښو خلي وویل

خلیل جبران

د وښو یوه خلي خزان وهلې پاڼې ته وویل: ته د را غورځېدو پر وخت شور ماشور ولې جوړوې؟ ستا دې شور زما پسرلنی خوب را خراب کړی دی.

پاڼې په غوسه ورته وویل: اوو ټیټ ذاته، په پستۍ کې اوسېدونکی، له موسیقیت بې برخې او بدرنګه خلیه! چې په لوړو بادونو کې نه اوسې نو د راګ په لی به څه پوه شې؟

له دې وروسته، خزان وهلې پاڼه په ځمکه ویده شوه او کله چې پسرلی راغی او سترګې یې پرانیستې، ویې لیدل چې اوس پخپله یو خلی ترې جوړ وو.

کله چې بیا خزان راغی او په دې خلي نورې پاڼې را وغورځېدې، نو ورو یې وویل: ((دا خزان وهلې پاڼې څومره شور کوي. زما خوږ خوب یې را خراب کړ.))

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه عالمان

خليل جبران

په يوه ښار کې دوه عالمان اوسېدل چې په خپل منځ کې يې ډېر سخت اختلافات لرل او د يو بل په وړتيا او استعداد به يې رشخند واهه. په دوی کې يو دهري او بل خدای پرسته وو. يوه ورځ دواړه په بازار کې يو ځای شول او د خپلو خپلو پيروانو په شتون کې يې د خدای په موجوديت او عدم موجوديت بحث پيل کړ، له ساعتونو مناظرې وروسته له يو بله جلا شول.

په همدې ماښام دهري جومات ته لاړ او له خپلو تېرو ګناهونو د ښښنې لپاره يې له خدای نه ښښنه وغوښته.

دا بل عالم خپل کتابونه وسوځول، په دې چې دهري شوی وو.

***

# د نېکۍ او بدۍ فرښته

خليل جبران

د نېکۍ او بدۍ فرښتې د غره په څوکې سره يو ځای شوې.

د نېکۍ فرښتې وويل: اې وروره، سهار پخير!

د بدۍ فرښته پټه خوله ولاړه وه.

د نېکۍ فرښتې وويل: نن ستا طبيعت راته ښه نه ښکاري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بدۍ فرښتې وویل: له یوې مودې راهیسې خلک ستا ګومان را باندې کوي. ستا په نوم راته غږ کوي او ستا په څېر چلند را سره کوي، دا خبره مې ډېره بده راځي.

د نېکۍ فرښتې وویل: خو په ما باندې بیا ستا ګومان کوي او ستا په نوم راته غږ کوي.

د دې په اورېدو د بدۍ فرښتې د انسان په حماقت لعنت ووایه او والوته.

***

## حضرت بایزید بسطامي رح او یهودي راهب

د بایزید هغه کیسه چې د یوې غیبي اشارې له مخې د یهودو په جامه کې د هغوی غونډې ته ورغلی وو؛ له ((روض الفائق)) سربېره د امام شافعي په نوموتي کتاب ((روضة الریاضین)) او د هغه په لنډیز کې هم راغلې ده. دا کیسه حضرت مولانا سید ابوالاعلی مودودي رحمه الله له عربي اردو ته ژباړلې چې پښتو ته هم له اردو څخه ژباړل شوې.

حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه ته یوه ورځ په مراقبه کې امر وشو چې د یهودو جامې واغونده او سمعان سیمې ته لاړ شه او د یهودو په اختر کې ګډون وکړه. حضرت بایزید رح لومړی خو له دې الهام نه وارخطا شو خو کله چې بیا بیا ځلې همدا ډول الهام ورته وشو نو د یهودو لباس یې په تن کړ او د اختر په ورځ یې سمعان ته تشریف یووړ.

کله چې ټول یهودان هلته راټول شول او د هغوی لوی لوی علما هم راغونډ شوو نو تر ټولو لوی راهب د وینا کولو لپاره پاځېد. خو کله چې ودرېد، نو په وعظ کولو ونه توانېد او پر زړه یې یو خاص اغېز احساس کړ چې له امله یې ژبه له کاره ولوېده. کله چې تر ډېره پورې چوپ ولاړ وو نو خلکو شور او زوږ جوړ کړ او خلکو د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوپټیا علت ترې وپوښته. راهب ورته وویل چې: نن زموږ منځ ته کوم محمدي (ص) رانوتی دی، د هغه محمدي (ص) له امله زه تقریر نه شم کولای، په دې چې هغه زموږ د آزمویونکي په توګه راغلی.

کله چې ګډونوالو دا خبره واورېده، نو یو ډول غوسه او خفګان جوړ شو او خلکو هغه راهب ته وویل چې موږ ته اجازه راکړئ چې ویې وژنو. راهب وویل چې پرته له کوم دلیل او برهان نه یې وژل په کار نه دي، بلکې لومړی د حجت د پوره کېدو لپاره خبرې ورسره وکړئ، له هغه وروسته یې بیا ووژنئ.

کله چې خلکو دا واورېدل نو د نوي راغلي کس په لټه کې شوو. راهب وویل اې محمدي زه تا ته ستا پیغمبر صلی الله علیه وسلم واسطه کوم چې هر چېرته ناست یې همالته ودرېږه، که دې موږ ډاډه کړو نو موږ به ستا اتباع وکړو؛ خو که تا د اسلام په اړه زموږ شکونه لرې کولای ونه شو، نو موږ به تا ووژنو. حضرت بایزید رح سمدستي پاڅېد. د ګډونوالو منتظرې سترګې ارامه شوې. راهب وویل: اې محمدي! موږ له تا یو څو پوښتنې کوو، که تا هغه ځواب کړې نو موږ به ستا او ستا د دین پیروان شو که نه نو د همدې غونډې په مخکې به وژل کېږې. حضرت بایزید رح د پوښتنو اجازه ورکړه.

راهب: را وښیه هغه یو څه شی دی چې دوهم یې نشته؟

حضرت بایزید رح: داسې یو چې دوهم یې نه وي هغه د الله تعالی ذات دی.

راهب: هغه دوه څه دي چې درېیم یې نشته؟

حضرت بایزید رح: هغه دوه شپه او ورځ دي چې درېیم نه لري.

راهب: هغه درې څه شی دي چې څلورم یې نشته؟

حضرت بایزید رح: عرش، کرسۍ او قلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راهب: هغه څلور راوښیه چې پنځم یې نشته.**

**حضرت بایزید رح: تورات: انجیل، زبور، قرآن.**

**راهب: هغه شپاړ شیان څه دي چې اووم یې نشته؟**

**حضرت بایزید رح: شپاړ ورځې دي چې ځمکه او آسمان پکې پیدا شوي.**

**راهب: داسې اوه شیان راوښیه چې اتم یې نه وي.**

**حضرت بایزید رح: اوه آسمانونه.**

**راهب: داسې اته شیان راته ووایه چې نهم یې نه وي.**

**حضرت بایزید رح: د عرش اوچتوونکې پرښتې.**

**راهب: هغه نهه شیان څه دي چې لسم نه لري؟**

**حضرت بایزید رح: د حضرت صالح علیه الصلوة والسلام د قوم هغه نهه کلي چې فساد کوونکي پکې مېشت وو.**

**راهب: عشره کامله څه ده؟**

**حضرت بایزید رح: هغه شخص چې د تمتع حج وکړي او د قربانۍ وس ونه لري، نو هغه ته پکار ده چې لس روژې ونیسي. د دې روژو، لس ورځو ته عشره کامله وایي.**

**راهب: هغه یوولس او دولس او دیارلس څه دي؟**

**حضرت بایزید رح: د حضرت یوسف علیه السلام یوولس ورونه، دولس میاشتې او حضرت یوسف علیه السلام په خوب کې دیارلس شیان د سجدې په حالت کې لیدلي وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راهب: هغه کوم قوم دی چې دروغ یې وویل او جنت ته لاړ او هغه کوم خلک دي چې رښتیا یې وویل خو دوزخ ته لاړل ؟**

**حضرت بایزید رح: د حضرت یوسف علیه اسلام ورونو دروغ وویل خو جنت ته لاړل. یهود او نصارا د یو بل په دروغ ګڼلو کې رښتیني دي، خو هغوی به دوزخ ته ځي.**

**راهب: ستا په ټول بدن کې ستا د نوم ځای چېرته دی ؟**

**حضرت بایزید رح: د هغه ځای ستا دوه غوږونه دي.**

**راهب: قسم د هغو بادونو چې ګرد الوځوي، بیا د هغو وریځو چې پېټي اوچتوي، بیا د هغو کښتیو چې په نرمۍ چلېږي، بیا د هغو ملایکو چې له امر سره سم وېش ترسره کوي، د دې آیتونو تفسیر راته ووایه.**

**حضرت بایزید رح: له ((ذاریات)) نه مراد بادونه دي. له ((حاملات)) نه مراد له اوبو نه ډکې وریځې دي. له ((جاریات)) او ((مقسمات)) نه مراد هغه پرښتې دي چې له یوه شعبانه تر بل شعبانه د انسانانو لپاره د رزق رسولو دنده ترسره کوي.**

**راهب: هغه څه شی دی چې د ساه اخیستلو نسبت ورته شوی خو روح نه لري ؟**

**حضرت بایزید رح: هغه صادق سهار دی چې روح نه لري خو بیا هم تنفس پکې شته دی؛** والصبح اذا تنفس.

**راهب: هغه څوارلس شیان څه دي چې له الله تعالی سره د خبرو کولو فضیلت ور په برخه دی ؟**

**حضرت بایزید رح: اوه اسمانونه او اوه ځمکې.**

**راهب: هغه کوم قبر دی چې خپل مړی یې ورسره ګرځاوه ؟**

**حضرت بایزید رح: د حضرت یونس علیه السلام کب.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راهب: هغه کومې اوبه دي چې نه له اسمانه را ورېدلې او نه له ځمکې را ایستل شوې؟**

**حضرت بایزید رح: حضرت سلیمان علیه السلام چې بلقیس ته کومې اوبه لېږلي وې، هغه د اسونو د خولو اوبه وې چې نه له اسمانه ورېدلې وې او نه له ځمکې راوتلې وې.**

**راهب: هغه څلور شیان راوښیه چې نه د مور له خېټې پیدا شوي او نه د پلار له شا نه تېر شوي؟**

**حضرت بایزید رح: د حضرت اسماعیل علیه السلام پسه. د حضرت صالح علیه السلام اوښه. حضرت آدم علیه اسلام او حوا علیها السلام.**

**راهب: هغه وینه چې تر ټولو مخکې په ځمکې وبهېده، د چا وه؟**

**حضرت بایزید رح: له ټولو نه مخکې د هابیل وینه وه چې د قابیل د قتل له امله په ځمکې وبهېده.**

**راهب: هغه څه شی دي چې خدای پیدا کړ او له پیدا کولو وروسته یې بېرته په خپله وپېره؟**

**حضرت بایزید رح: د مؤمن نفس چې خدای پیدا کړی او بیا یې په خپله اخیستی.**

**راهب: اې محمدي (ص)! هغه کوم غږ دی چې الله تعالی پیدا کړی او بیا یې د هغه بدي بیان کړې؟**

**حضرت بایزید رح: هغه د خره غږ دی.**

**راهب: هغه کوم مخلوق دی چې الله تعالی پیدا کړی او د هغه له لویوالي یې خلک وېرولي دي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حضرت بایزید رح: د ښځو چل او مکر.**

**راهب: هغه څه شی دی چې الله تعالی پیدا کړي او په خپله یې د هغه په هکله پوښتنه هم کړې ؟**

**حضرت بایزید رح: د حضرت موسی علیه السلام عصا، چې خدای پیدا کړې او بیا یې په خپله د هغې اړوند پوښتنه هم کړې.**

**راهب: په ښځو کې تر ټولو غوره ښځې او په سیندونو کې تر ټولو غوره سیندونه کوم دي ؟**

**حضرت بایزید رح: حضرت حوا (ع)، خدیجة الکبری (رض)، عایشه (رض)، آسیه (ع)، فاطمة (رض)، مریم (ع)؛ او په سیندونو کې غوره د جیحون، سیحون، دجله، فرات او نیل سیندونه دي.**

**راهب: تر ټولو غوره غرونه او غوره ژوي کوم دي ؟**

**حضرت بایزید رح: په غرونو کې تر ټولو غوره غر د طور غر دی او په ژویو کې تر ټولو غوره ژوی اس دی.**

**راهب: ای محمدي(ص)! ووایه په دوولسو میاشتو کې تر ټولو غوره میاشت کومه یوه ده ؟ او په شپو کې تر ټولو غوره شپه کومه ده ؟ او د ((طامت)) کلمې تفسیر څه دی ؟**

**حضرت بایزید رح: غوره میاشت د روژې میاشت ده، په شپو کې غوره شپه د قدر شپه ده او طامت د قیامت د ورځې نوم دی.**

**راهب: په یوه ونه کې دوولس ښاخونه دي، په هر ښاخ کې دوولس پاڼې او په هره پاڼه کې پنځه ګلان دي، دوه ګلان لمر ته دي او په درې ګلانو سیوری غوړېدلی، ووایه چې دا څه شی دی ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حضرت بایزید رح: له ونې مراد کال دی چې دولس میاشتې لري او هره میاشت دېرش ورځې لري. په هره ورځ کې پنځه ګلان یعنې د پنځه وخته لمنځونه، چې د ماسپښین او مازدیګر د لمر په رڼا یعنې د ورځې ترسره کېږي او د ماښام، ماخوستن او سهار درې لمنځونه په سیوري یعنې د لمر له لوېدو وروسته کېږي.**

**راهب: هغه څه شی دي چې کعبې ته ورسېده او د بیت الله طواف یې وکړ په داسې حال کې چې نه پکې روح شته او نه هم په هغه باندې حج فرض دی؟**

**حضرت بایزید رح: د حضرت نوح علیه السلام کښتۍ، کله چې د توپان په حالت کې دا کښتۍ عربو ته ورسېده نو د بیت الله طواف یې وکړ که څه هم بیت الله په اوبه کې ډوبه وو.**

**راهب: الله تعالی څو نبیان پیدا کړي؟ په هغو کې څو مرسل او څو نامرسل دي؟**

**حضرت بایزید رح: صحیح علم یې له الله تعالی سره دی خو داسې ښکاري چې یو لک او څلورویشت زره نبیان تېر شوي دي چې په هغو کې درې سوه او دیارلس مرسل او نور یې نامرسل دي.**

**راهب: هغه څلور شیان کوم دي چې اصل خو یې یو دی خو رنګ او خوند یې په خپلو کې توپیر لري؟**

**حضرت بایزید رح: دا څلور شیان سترګه، غوږ، پزه او خوله دي. د غوږ د اوبو خوند تریخ، د سترګې اوبه مالګینې، د خولې لاړې خوږې او د پزې د اوبو خوند تریو دی.**

**راهب: د نقیر، قطمیر او فتیل د کلمو تفسیر څرګند کړه.**

**حضرت بایزید رح: نقیر د خرما د زړي باندیني سپین رنګ ته وایي؛ قطمیر د زړي سپین پوستکی دی؛ فتیل د زړي په منځ کې سپین تار ته وایي.**

**راهب: د سبد او لبد کلمو تفسیر راته ووایه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت بایزید رح: د اوزې او پسه د وېښتانو نوم دی.

راهب: ووایه هَم او رَم د چا نوم دی؟

حضرت بایزید رح: له حضرت آدم علیه السلام نه د مخکنیو امتونو نوم دی.

راهب: ووایه خر په خپل غږ کې څه وایي؟

حضرت بایزید رح: د مالیې په اخیستونکو دې د الله تعالی لعنت وي.

راهب: د سپي غږ څه شی دی؟

حضرت بایزید رح: په دوزخیانو دې د الله تعالی د غضب له مخې هلاکت راشي.

راهب: د غویي تسبیح څه ده؟

حضرت بایزید رح: د الله تعالی سپېڅلتیا بیانوو او د هغه ستاینه هم سپېڅلې ده.

راهب: اس د جنګ په میدان کې څه وایي؟

حضرت بایزید رح: پاک دی هغه ذات چې هغه وخت زما ساتنه کوي چې خلک له یو بل سره مخېږي او په خپلو کې په جنګ اخته کېږي.

راهب: د اوښ تسبیح راوښایه.

حضرت بایزید رح: زما لپاره الله تعالی بسنه کوي. د ساتنې او ملاتړ لپاره الله بسندویه دی.

راهب: د چونګښې تسبیح څه ده؟

حضرت بایزید رح: پاک دی هغه ذات چې په دښتو او بیابانونو کې یې عبادت کېږي او د خرابیو سموونکی دی.

راهب: د بلبل په خوږ غږ کې کوم آیت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حضرت بایزید رح:** سبحان الله حين تمسون و حين تصبحون؛ **ژباړه: نو د الله تسبیح کوئ کله چې ماښام کوئ او کله چې سهار کوئ.**

**راهب: هغه څه شی دی چې الله تعالی وحي ور لیږلې، خو نه هغه انسان دی، نه پېری او نه پرښته ؟**

**حضرت بایزید رح: د شاتو مچۍ.**

**له دې نه وروسته حضرت ابو یزید رحمة الله علیه وفرمایل که کومه بله پوښتنه دې وي نو ووایه، خو راهب نټه وکړه او ویې ویل چې بله کومه پوښتنه نه لرم. نو حضرت ابو یزید (رح) وفرمایل اوس زه غواړم له تا یوه پوښتنه وکړم: اې راهبه! ته له آسماني کتابونو خبر یې، یوازې یوه خبره راته وکړه چې د آسمان او د جنت کلي څه شی ده ؟**

**راهب د دې پوښتنې په اورېدو حیرانه شو. حضرت ابو یزید د ګډونوالو پام ځانته ور واړاوه او ویې ویل چې ما د دومره پوښتنو ځواب ورکړ خو ستاسې راهب د یوې پوښتنې له ځوابولو هم مخ اړوي. راهب چې دا واورېدل نو ویې ویل چې زه د ځواب در کولو لپاره چمتو یم؛ خو وېرېږم چې شته خلک به زما خبره ونه مني. کله چې ګډونوالو دا خبره واورېده، نو ویې ویل چې موږ به هېڅکله هم ستا مخالفت ونه کړو. که کومه حق خبره وي، نو څرګنده یې کړه. موږ یې د منلو لپاره چمتو یو، ته زموږ مشر یې، موږ ستا اطاعت کوونکي یو، که کوم هدایت زموږ لپاره ګټور وي، نو په څرګند ډول یې وړاندې کړه. راهب وویل چې رښتیا خبره دا ده چې د جنت کلي** لا اله الا الله محمد رسول الله **ده.**

**ګډونوالو چې د راهب له خولې دا الفاظ واورېدل، نو ټولو د مسلمانېدو اعلان وکړ. د یهودیت ټولې نښې له منځه یو وړل شوې او د حضرت بایزید رحمة الله علیه په لاسونو ټول خلک په اسلام سر لوړي شوو. حضرت بایزید بسطامي (رح) ته الهام**

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشو چې تا زموږ لپاره د یهودیت جامې اغوستې وې، موږ ستا د دې اطاعت په بدل کې ستا له امله سلګونه خلک په اسلام کې داخل کړو.

***

# د حضرت بایزید بسطامي رح ځینې کیسې

کتاب: جنید و بایزید

(۱)

کله چې بایزید (رح) خښ کړی شو، نو د علي مور یې چې د احمد خضرویه رح ښځه وه، زیارت ته راغله. کله چې له زیارت نه اوزګاره شوه نو ویې ویل: تاسو پوهېږئ چې بایزید (رح) څوک وو؟ خلکو وویل چې: تاسې تر موږ ښه پوهېږئ.

هغې وویل: یوه شپه ما د کعبې طواف کاوه او د یو څه ځنډ لپاره کېناستم او ویده شوم. په خوب کې مې ولیدل چې پرښتو زه آسمان ته یو وړم. ما تر عرش لاندې یوه دښته ولیده چې اوږدوالي او پلنوالي یې هېڅ حد نه لاره، هغه ټوله دښته له ګلانو ډکه وه او د هر ګل په پاڼې لیکل شوي وو: بایزید رح ولي الله دی.

شیخ ابوسعید ابو الخیر د بایزید رح زیارت ته راغی، نو ویې فرمایل دا هغه ځای دی چې په ټوله دنیا کې چې د چا کوم شی ورک شي، هغه دې یې دلته ولټوي.

(۲)

علامه محمد اقبال رحمه الله د بایزید په اړه فرمایي:

دور ها باید که تا یک مرد حق پیدا شود　　بایزید اندر خراسان یا اویس اندر قرن

(۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

علامه اقبال رح هغه خبره په خپل یوه شعر کې راوړې ده چې د حضرت بایزید رح د سنتو د اتباع حال دا وو چې ټول ژوند یې خټکی له دې امله ونه خوړ چې له احادیثو دا خبره ور ثابته نه شوه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خټکی په څه ډول خوړلی. همدا کلمات د لاندیني شعر ژباړه ده:

کامل بسطام در تقلید فرد　　　اجتناب از خوردن خربوزه کرد

(۴)

بایزید به د شپې څلور رکعته لمونځ وکړ بیا به یې سلام وګرځاوه او وبه یې ویل دا لمونځ د قبلېدو وړ نه دی. بیا به یې څلور رکعته لمونځ وکړ، بیا به یې همدا وویل چې دا لمونځ د قبلېدو وړ نه وو، تر دې چې په همدې ډول به شپه پای ته ورسېده او سهار به یې الله تعالی ته زارۍ کولې چې ما ستا په وړاندې د ښه لمانځه ډېره هڅه وکړه خو پکې پاتې راغلم. په دې چې څنګه چې زه یم، هماغسې مې لمونځ هم دی، د همدې لپاره ما په خپلو لمونځ کوونکو بندګانو کې وشمېره.

(۵)

د یوه جومات امام له بایزید رح نه وپوښتل چې تاسې کار خو نه کوئ نو بیا خورئ او څښئ له کومه ځایه. بایزید وفرمایل لومړی ما پرېږده چې هغه لمونځ چې همدا اوس مې په تا پسې وکړ، هغه بېرته را وګرځوم، ځکه چې کوم څوک چې خپل رازق نه پېژني، د هغه تر شا لمونځ نه صحیح کېږي.

همداسې یو کس ته بایزید وفرمایل چې: کوم خدای چې سپي، پیشو او حیواناتو ته روزي ورکوي، نو آیا هغه بایزید ته رزق نه شي ورکولای؟ دغه راز یوه شخص ترې وپوښتل چې: تاسې ته رزق له کومه راځي؟

ویې فرمایل: که دا رزق نه وای، نو له اسمانه به مو نازل کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶)

بایزید رح فرمایي چې: یو ځلې د دجلې سیند ته ور نږدې شوم، نو اوبه له ډېره جوشه زما هرکلي ته را پورته شوې؛ خو ما ورته وویل چې ستا دا ښه راغلاست به ما د ذرې هومره هم کبرجن نه کړي او زه خپل دېرش کلن ریاضت د تکبر له امله نه شم ضایع کولای، ځکه چې زه د کرم غوښتونکی یم نه د کرامت.

(۷)

وایي چې په سیند کې یو لړم د ډوبېدو په حال کې وو، نو بایزید له سینده را وایست خو لړم وچیچه. هغه لړم درې ځلې په سین کې ولوېد او بایزید رح هر ځل هغه را وایست او هغه لړم درې واره واره بایزید رح وچیچه. یو شخص چې نږدې ولاړ وو ویې ویل: تاسې ډېر عجیب یاستئ، هغه تاسې چیچي او تاسې بیا هم په هغه رحم کوئ. نو ویې فرمایل چې که هغه له بدۍ څخه نه منع کېږي، نو زه له نېکۍ کولو څخه ولې را وګرځم؟

(۸)

مولانای روم رحمة الله تعالی علیه د حضرت بایزید بسطامي رح د وخت یوه کیسه بیانوي چې یوه مسلمان یوه یهودي ته د اسلام دعوت ورکړ. یهودي ورته وویل چې د کوم اسلام لور ته مې غواړې؟ که د بایزید بسطامي رح اسلام وي، نو هغه زما له وس او توانه ډېر اوچت دی چې د لاسته راوړو کوښښ یې زما د وس خبره نه ده او که اسلام هماغه دی چې ته یې عملي بېلګه یې نو ستا په پرتله زما په څېر یو عادي انسان هم غوره دی. ستا اعمال خو داسې دي چې که کوم کس د اسلام خواته مایل هم وي، ستا په لیدو به یې له اسلام نه کرکه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۹)

یوه ورځ یوه شخص د بایزید رح لپاره یو څه مڼې راوړې. بایزید بسطامي رح یوه مڼه را واخیسته او ویې موسل او بیا یې ټولې مڼې په ناستو خلکو وویشلې او بیا یې وفرمایل چې که زه د خپل نفس غوښتنې پوره کړم، نو پر هغه به مال برلاسی شي. فرمایي: څوک چې د خپل نفس غوښتنه پوره کړي، د هغه په عمل کې به تنبلي او سستي را پیدا شي.

(۱۰)

یو ځلې حضرت بایزید رح د خپل نفس جایزه واخیسته نو ډېر چاغ یې وموند. بایزید وفرمایل: اې نفسه! زه خو په تا ډېر کم خورم، څښم او ستا هېڅ غوښتنه نه پوره کوم، نو بیا څنګه دومره چاغ شوی یې؟ هغه ځواب ورکړ چې: د هغه درناوي له امله چې تاته یې درکوي. ویې پوښتل کوم درناوی؟ نفس ورته وویل: کله چې ته بازار ته ځې نو ټول خلک تا ته ودرېږي او ستا لاسونه ښکلوي، بس زه هم په همدې خپل کار وباسم.

بایزید رح وفرمایل: ښه دا خبره ده، نو د روژې په میاشت کې یې د بازار په منځ کې دوډۍ ژوول پیل کړل. د بایزید رح د دې کار له امله خلک ورڅخه بدګمانه شوو او له هغه یې کرکه وشوه. اوس چې بایزید رح خپل نفس ته وکتل، نو ډېر ډنګر شوی وو.

(۱۱)

بایزید رح فرمایي چې: ما درې کاله مجاهده وکړه، خو علم او په هغه باندې له عمل کولو څخه مې هېڅ شی هم زیات سخت ونه موندل. دغه راز فرمایي چې: که ووینئ چې یو کس په هوا کې الوځي، نو د هغه په دې کرامت مه غولېږئ تر څو چې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګورئ چې هغه په اوامرو و نواهیو، د الله تعالی د حدودو په ساتنه او د شریعت په عملي کولو کې څنګه دی؟**

***

## د پیغمبر ص ځانګړنې

**علامه عبدالرؤف مناوي (متوفي ۱۰۰۳هـ) لیکي چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له بې شمېره ځانګړنو څخه یوه ځانګړنه دا هم ده چې الله تعالی په قرآن کریم کې د نبي کریم ص هر یو غړی مبارک بېل بېل یاد کړی دی.**

**الف) د پیغمبر ص د څېرې مبارکې په اړه ارشاد دی:** قد نری تقلب وجهک.

**ب) د سترګو په اړه یې راځي:** ولا تمدن عینیک.

**ج) او د ژبې مبارکې په اړه یې ارشاد دی:** فانما یسرناه بلسانک.

**او لاس او څټ مبارک دواړه یو ځای یاد شوي:** ولا تجعل یدک مغلولة الی عنقک.

**د) په همدې ډول د سینې او ملا یادونه په الم نشرح سورت کې یو ځای شوې ده:** الم نشرح لک صدرک ووضعنا عنک وزرک الذی انقض ظهرک.

**هـ) مبارک زړه یې په دې آیت کې یاد شوی:** نزل به الروح الامین علی قلبک.

## د عربو حریص

**مفتي محمد تقي عثماني حفظه الله په خپل کتاب ((تراشې)) کې لیکي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عربو کې اشعب نومي يو شخص (متوفي ۱۵۴هـ) د خپل حرص له امله ډېر زيات مشهور وو، تر دې چې لقب يې هم طامع يعنې حريص مشهور شوی وو او د حرص او لالچ په اړه بيخي يو متل ګرځېدلی وو. هر کله به چې د کوم شخص په اړه ويل کېدل چې هغه ډېر حريص دی نو وايي چې: هغه د خپل وخت اشعب دی. يا پلانکی خو له اشعب نه هم ور تېر دی. په عربي ژبه کې مې دا جملې ډېرې اورېدلې وې. خو د خطيب رح په کتاب ((د بغداد تاريخ)) کې د هغه يو څو کيسې راغلې چې د طبيعت د تازه کېدو لپاره يې دلته راوړو:

الف-: اصمعي رح وايي چې يوه ورځ ماشومان په اشعب پسې شول او ځوراوه يې، اشعب يې پر وړاندې بې وسه شو، نو ماشومانو ته يې وويل: ((هله، لاړ شئ، سالم بن عبدالله خرماوې وېشي.))

ماشومانو چې دا واورېدل نو د حضرت سالم رح د کور لور ته يې ور منډې کړې. اشعب چې دا وليدل نو په خپله يې د ماشومانو تر شا منډه پيل کړه چې څوک خبر دي؛ کېدای شي دا خبره رښتيا وي او سالم رح به په رښتيا هم خرماوې وېشي.

ب-: ضحاک وايي چې حريص اشعب د يو څو خلکو تر څنګ تېر شو چې د سودا د خرڅولو کڅوړې يې جوړولې. اشعب ورته وويل: لږ لويې لويې يې جوړې کړئ!

هغوی وپوښتل چې: هغه ولې ؟

اشعب ورته وويل: کېدای شي چې کوم څوک په همدې کڅوړو کې زما لپاره کومه ډالۍ راوړي!

ج-: اشعب بيا په خپله وايي چې: کله به مې چې په کومه جنازه کې ګډون وکړ او هلته به مې دوه سرې په خپلو کې په خبرو وليدل، نو تل به مې همدا احساسوله چې کېدای شي مړي به زما لپاره کوم وصيت کړی وي او دوی به په هماغه اړه خبرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر ماشوم امر کول

**مفتي محمد تقي عثماني**

**کتاب: تراشې**

**علامه طاهر بن عبدالرشيد بخاري رح ليکلي دي چې هر پلار ته پکار ده چې کله په خپل زوی امر کوي نو د صريحو الفاظو پر ځای دې داسې ووايي چې:**

**((زويه، که هغه فلانی کار وکړې نو ښه به وي.))**

**په دې چې که صراحتاً امر وکړي او مثلا وايي چې: ((داسې وکړه!)) او زوی د کوم علت له مخې هغه کار ونه کړي، نو هغه به د مور و پلار د نافرمانۍ له امله په کبيره ګناه اخته شي. حال دا چې په لومړي صورت کې دا وېره نشته.**

***

# په عادي خبرو کې د قرآن کريم آيتونه

**حضرت عبدالله بن مبارک رح فرمايي چې: زه يو ځلې حج ته لاړم، په لاره کې مې يوه زړه ښځه ناسته وليده چې د وړيو کميس يې اغوستی وو او د وړيو ځادر يې په ځان کړی وو، ما سلام پرې واچاو، نو هغې ځواب راکړ:** سلامٌ قولا من رب رحيم.

**ما وپوښتل: الله تعالی دې پر تا رحم وکړي، ته دلته څه کوې؟**

**ويې ويل:** من يضلل الله فلا هادی له؛ **ژباړه: څوک چې الله بې لارې کړي، هغه لره هيڅ لارښود نه وي.**

**زه پوه شوم چې لاره ترې غلطه شوې. له همدې مې ترې وپوښتل: چېرته ځې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ویې ویل:** سبحن الذی اسرای بعبده لیلا من المسجد الحرام الی المسجد الاقصی؛ **ژباړه: پاک دی هغه ذات چې خپل بنده یې د شپې له مسجد الحرام نه مسجد الاقصی ته وې ووړ.**

**زه پوه شوم چې حج یې کړی او غواړي بیت المقدس ته لاړه شي. ومې پوښتل: له کوم وخت راهیسې دلته ناسته یې؟**

**ویې ویل:** ثلث لیال سویا؛ **ژباړه: پوره درې ورځې.**

**ما وویل: له تاسره خو د خوراک هم څه نشته، خورې څه؟**

**ځواب یې راکړ:** هو یطعمنی ویسقین؛ **ژباړه: هغه الله په ما خوري او څښي.**

**ما وپوښتل: اودس په څه شي کوې؟**

**ویې ویل:** فیتمموا صعیدا طیبا؛ **ژباړه: په پاکې خاورې تیمم وکړئ.**

**ما وویل: له ما سره د خوراک یو څه شته، خورې یې؟**

**ځواب یې راکړ:** اتمو الصیام الی الیل؛ **ژباړه: تر شپې پورې روژې بشپړې کړئ.**

**ما وویل: دا خو د روژې میاشت نه ده.**

**ویې ویل:** ومن تطوع خیرا فان الله شاکر علیم؛ **ژباړه: او کوم څوک چې په نېکۍ کې زیادت وکړي، نو الله تعالی شکر کوونکی او پوهېدونکی دی.**

**ما وویل: د سفر په حالت کې خو فرض روژه پرېښودل هم روا ده.**

**ویې ویل:** وان تصوموا خیر لکم ان کنتم تعلمون؛ **ژباړه: که تاسې پوهېږئ نو روژه نیول زیات غوره دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ومې ویل: ته زما غوندې ولې خبرې نه کوې؟**

**ځواب مې ترلاسه کړ:** ما یلفظ من قول الا لدیه رقیب عتید؛ **ژباړه: انسان چې کومه خبره کوي، د هغه لپاره یوه ساتونکې پرښته وي.**

**ما وپوښتل: ته له کومې قبیلې ښځه یې؟**

**ویې ویل:** لاتقف ما لیس لک به علم؛ **ژباړه: او په هغه څه پسې مه کېږه چې تاته یې پوهه نه وي.**

**ومې ویل: وبښه له ما تېروتنه وشوه.**

**ویې ویل:** لاتثریب علیکم الیوم یغفرالله لکم؛ **ژباړه: نن پر تاسو کومه پړه نشته، الله دې بخښنه درته وکړي.**

**ومې ویل: که غواړې زما پر اوښې سپره شه او له خپلې قافلې سره یو ځای شه.**

**ویې ویل:** وما تفعلوا من خیر یعلمه الله؛ **ژباړه: تاسې چې هره نېکي کوئ، الله پرې پوه دی.**

**خپله اوښه مې کېنوله، خو هغې له سپرېدو مخکې وویل:** قل للمومنین یغضوا من ابصارهم؛ **ژباړه: مؤمنانو ته ووایه چې خپلې سترګې ښکته کړي.**

**ما خپل سترګې ښکته کړې او هغې ته مې وویل: سپره شه.**

**خو کله چې هغه سپره شوه نو ناڅاپه اوښه وتښتېده او په دې اړ و دوړ کې د هغې جامې خیرې شوې، پر دې کار هغې وویل:** ما اصابکم من مصیبة فبما کسبت ایدیکم؛ **ژباړه: تاسې ته چې هر مصیبت رسېږي هغه ستاسې د اعمالو له امله وي.**

**ومې ویل: لږ ودرېږه چې زه اوښه وتړم، بیا پرې سپره شه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغې وویل:** ففهمناها سلیمن؛ **ژباړه: موږ د دې مسئلې حل سلیمان (علیه السلام) ته ور وښود.**

**ما اوښه وتړله او هغې ته مې وویل: اوس پرې سپره شه. هغه سپره شوه او دا آیت یې ولوست:** سبحان الذی سخرلنا هذا وما کنا له مقرنین وانا الی ربنا لمنقلبون؛ **ژباړه: پاک دی هغه ذات چې زموږ لپاره یې دا سورلۍ اېل کړه او موږ یې (رام) کوونکي نه وو او بې شکه چې موږ ټول خپل پروردګار ته ورګرځېدونکي یو.**

**ما د اوښې پړی ونیو او روان شوم. ما ډېرې تېزې منډې وهلې او ورسره مې په زوره زوره چیغو باندې اوښه هم وېروله. د دې په لیدو هغې وویل:** واقصد فی مشیک واغضض من صوتک؛ **ژباړه: او په خپل تګ کې له اعتدال نه کار واخله او خپل غږ دې ټیټ کړه.**

**اوس زه ورو ورو روان شوم او یو څه اشعار مې زمزمه کول پیل کړو، په دې باندې هغې وویل:** فاقرءوا ما تیسر من القران؛ **ژباړه: نو چې څه درته اسانه وي هماغومره ترې لولئ.**

**ما وویل: ته د الله تعالی له خوا په ډېرو نېکیو نازول شوې یې.**

**ویې ویل:** وما یذکر الا اولوالالباب؛ **ژباړه: او له دې یوازې د عقل څښتنان پند اخلي.**

**له یو څه چوپتیا وروسته مې وپوښتل: مېړه لرې ؟**

**ویې ویل:** لا تسألوا عن اشیاء ان تبدلکم تسوکم؛ **ژباړه: د داسې شیانو په اړه پوښتنه مه کوئ چې که پر تاسې ښکاره شي، په تاسې بد ولګي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوس زه پټه خوله شوم او تر څو چې قافله را ونه رسېده، هېڅ خبره مې هم ورسره ونه کړه. قافله نږدې راغله نو ورته مې وويل: دا ده قافله راغله، په دې کې ستا خپل څوک دي؟**

**ويې ويل:** المال والبنون زينة الحيوة الدنيا؛ **ژباړه: مال او زامن د دنيوي ژوند ښکلاوې دي.**

**زه پوه شوم چې په قافله کې يې زامن شته دي. ومې پوښتل: په دې قافلې کې د هغوی څه کار وو؟**

**ويې ويل:** وعلمت وبالنجم هم يهتدون؛ **ژباړه: او (پيدا کړې يې دي) علامې او په ستورو سره (هم) دوی لار مومي.**

**زه پوه شوم چې د دې زامن د قافلې لارښوونکي دي، نو خېمو ته مې نږدې ور وسته او ومې پوښتل: دا دی خېمې راغلې، اوس ووايه ستا (زامن) څوک دي؟**

**ويې ويل:** واتخذالله ابراهيم خليلا... وکلم الله موسى تکليما... يا يحيى خذالکتب بقوة.

**نو غږ مې وکړ: اې ابراهيمه، اې موسی، اې يحيی! نو لږ ځنډ وروسته څو ځوانان چې د سپوږمۍ غوندې ښايسته وو، زما مخې ته راغلل.**

**کله چې مور تول په ډاډه زړه کېناستو نو ښځې خپلو زامنو ته وويل:** فابعثوا احدکم بورقکم هذه الی المدينة فلينظرو ايها ازکی طعاما فلياتکم برزق منه؛ **ژباړه: خو يو کس مو لگه دغو سپينو روپيو سره ښار ته واستوئ چې وگوري کوم يوه سره ښه پاک خواړه دي نو بيا دې لگه هماغه نه څه خواړه درته راوړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله یې چې خبره واورېده، نو یو ځوان لاړ او یو ښځه خواږه یې راوړل، هغه خواږه زما مخې ته هم کېښودل شو:** کلوا واشربو هنیا بما اسلفتم فی الایام الخالیة؛ **ژباړه: خورئ، څښئ (ښه) په خوند سره، دهغو عملونو په بدله کې چې په تېرو ورځو کې مو وړاندې لېږلي وو.**

**نور مې حوصله تنګه شوه او هلکانو ته مې وویل: ستاسې خواږه دې پر ما حرام وي، تر څو پورې چې د دې ښځې حقیقت را ونه ښایئ.**

**هلکانو وویل چې: زموږ د مور له څلوېښت کلو راهیسې همدا حال دی، له څلوېښتو کلو راهیسې یې له قرآني آیاتو پرته بله جمله نه ده ویلې. او دا بندیز یې پر ځان له دې کبله لګولی دی چې داسې نه له ژبې یې کومه ناروا یا ناوړه خبره وشي چې د الله تعالی د خفګان سبب شي.**

**ما وویل:** ذلک فضل الله یؤتیه من یشاء والله ذوالفضل العظیم.

***

# په کنایه پوهېدل

**کتاب: تراشې**

**حضرت قیس بن سعد بن عباده رض معروف صحابي دی او تر اوږدې مودې پورې د مصر والي وو. موسی بن عقبه رح فرمایي چې یوه ورځ یوه زړه ښځه هغه ته راغله او ویې ویل: زه شکایت لرم چې زما په کور کې مږیان او چینجیان ډېر کم دي.**

**حضرت قیس وفرمایل چې: څومره ښه کنایه وه، د دې کور له ډوډۍ، غوښې، غوړو او خرماوو ور ډک کړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

## په لمانځه کې هېر شوی ځای وریاد شو

**کتاب: تراشې**

یو ځلې یو شخص امام ابو حنیفه رح ته راغی او ویې ویل چې ډېره موده وشوه، ما خپل مال یو ځای خښ کړی وو، اوس مې هغه ځای په یاد نه دی، کومه لاره را وښایئ.

امام صاحب ورته وویل چې دا د فقهې کومه خبره نه ده، خو یوه لاره به دروښیم، کور ته لاړ شه او نن ټوله شپه لمونځ وکړه، هیله ده چې ان شاء الله هغه ځای به در په یاد شي.

هغه کس لاړ. لا تر اوسه د شپې څلورمه برخه تېره شوې وه چې هغه ځای ور یاد شو. نوموړی کس راغی او امام ابو حنیفه رح ته یې دا خبره وکړه. نو هغه مبارک ورته وفرمایل چې: زما فکر هم همدا وو چې شیطان به تا ټوله شپه لمونځ کولو ته پرې نه ږدي، خو تا ته په کار وو چې د ځای له یادېدو وروسته دې هم ټوله شپه لمونځ کړی وای او په دې ډول به دې د الله تعالی شکر پر ځای کړی وو.

***

## د اما ابو حنیفه خوب

**کتاب: تراشې**

په څلور رکعته لمونځ کې کله چې په دوهم رکعت کې کښېني نو یوازې التحیات ویل کېږي، درود نه لوستل کېږي. د امام ابو حنیفه مسلک دا دی چې که کوم شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېروتنې سره د دوهم رکعت په ناسته کې له التحيات وروسته تر اللهم صلی علی محمد پورې ولولي، نو پر هغه د سهوې سجده واجبېږي.

په همدې اړوند د امام صاحب يوه کيسه ده او هغه دا چې يو ځلې امام صاحب په خوب کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وليد، پيغمبر ص ترې وپوښتل چې: کوم شخص چې پر ما درود لولي، ته پر هغه د سهوې سجده ځنګه واجبولای شې؟

امام ابو حنيفه رح ځواک ورکړ چې: د دې لپاره چې هغه پر تاسې په هېره کې درود لوستی دی.

پيغمبر ص د امام صاحب دا ځواب خوښ کړ. (البحر الرائق، ص ۱۰۵، ج ۲)

***

# د خدای قدرت

کتاب: تراشې

جان وليم کلاتس نوميالی مقاله ليکونکی ليکي چې: د ګل يو خاص ډول دی چې (Jack in the pulpoint) نومېږي. په دې بوټي کې د ګلانو غوټۍ دوه ډوله وي: نر او ماده. په دې بوټي کې ورې ورې پيالې ته ورته نباتي کړۍ وي او د همدې کړيو په منځ کې ګلان وده کوي او دباندې راوځي. د نورو بوټو په څېر په دې کې هم د ګلانو وده د نر او مادې له يو ځای کېدو څخه کېږي، خو په دې بوټو کې د القاح يو عجيب او نادر نظام وجود لري. دلته نر او ماده نېغ په نېغه نه يو ځای کېږي بلکې دا القا د ډېرو ورو مچيو له لارې سرته رسېږي. هغه داسې چې د بوټي نباتي کړۍ له پورته نه پراخې وي خو د دننه له خوا تنګې وي. وړه مچۍ د نر بوټي په دې کړيو کې ننوتل غواړي، خو کله چې منځ ته ورسېږي هلته ونښلي. يو خو له وړاندې څخه لاره تنګه وي، بله دا چې ځنګه مچۍ د کوم نر بوټي کړۍ ته ور ننوځي، د هغه کړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتنۍ برخه کې د موم غونډې مواد د دننه لور ته ښوېيدل پيل شي چې د کړۍ دېوالونه پرې وتړل شي. اوس دا مچۍ نه د مخته تګ لاره لري او نه هم د شاته تګ، د همدې لپاره هغه په خپل ځای کې د لېونتوب په حالت کې تاوېږي راتاوېږي. د دې لېونۍ تاوېدا له امله د بوټي تناسلي ذرې د مچۍ په بدن پورې ونښلي. او څنګه چې دا کار بشپړ شي نو د کړۍ له پورتنۍ برخې نه موم ته ورته موادو راوتل ودرېږي. د موم له امله د بوټي پورتنۍ برخه يو څه سخته شوې وي، خو له يو څه کوښښ وروسته مچۍ دباندې را ووځي.

له دې وروسته همدا مچۍ د کوم ماده بوټي کړۍ ته په هماغه ډول ور ننوځي، خو د ښځينه بوټي په حلقو کې دا خاصيت دی چې هغه مچۍ له ور ننوتو وروسته دباندې را وتو ته نه پرېږدي، مچې چې دننه لاړه شي نو د تل لپاره همالته بندي شي، تر دې چې مرګ ورته راشي، له مړينې يو څه وخت مخکې هغه د دباندې را وتلو وروستۍ هلې ځلې کوي، په دې کې هغه د نر بوټي تناسلي ذرات ښځينه بوټي ته انتقال کړي او د تناسل دا عمل بشپړ شي.

دا يوه عجيبه معامله ده چې د نر بوټي حلقه لومړی مچۍ ته د ورننوتو موقع ورکوي، بيا هغه راګيره کړي او وروسته بيا د وتلو موقع هم ورکوي. د دې پر عکس ښځينه بوټی يې له ګيرولو وروسته د وتلو موقع نه ورکوي. فتبارک الله احسن الخالقين.

مضمون نګار د دې پېښې له بيانولو وروسته ليکي:

((آيا دا ټولې نښې د الله تعالی په وجود دلالت نه کوي؟ زموږ د عقلونو لپاره دا تصور کول بيخي ستونزمنه ده چې دا عجيب او غريب نظام يوازې يوه حادثاتي کارنامه ده. دا منل حتمي دي چې دا ټول د مستحکم پلان او د بشپړ قدرت پايله ده. (الله يتجلی فی عصر العلم ص ۵۱)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځينوو صحابوو له خوا ازاد شوي بنديان

**کتاب: تراشې**

نواب صديق حسن خان صاحب رحمة الله عليه د النجم الوهاج په حواله د ځينو صحابوو له لوري د آزاد شويو غلامانو شمېر په لاندې ډول را اخيستی دی:

| نوم | د بنديانو شمېر |
|---|---|
| حضرت عايشه رض | ۶۹ |
| حضرت عباس | ۷۰ |
| حضرت حکيم بن حزام رض | ۱۰۰ |
| حضرت عبدالله بن عمر رض | ۱۰۰۰ |
| حضرت عثمان غني رض | ۲۰ |
| حضرت ذوالکلاع حميری رض | ۸۰۰۰ |
| حضرت عبدالرحمن بن عوف رض | ۳۰،۰۰۰ (يوازې په يوه ورځ کې) |

له دې په ډاګه کېږي چې يوازې اوو صحابوو ۳۹ زره ۲ سوه ۵۹ مريبان خوشی کړي او ښکاره ده چې د نورو زرګونو صحابوو ازاد کړي غلامان په دې لړليک کې شامل نه دي.

***

## ځيرکتيا

د قاضي اياس په اړه ابراهيم بن عرزوق بصري رح بيانوي چې: مخکې له دې چې اياس بن معاويه رح قاضي شي، يوه ورځ موږ ورسره ناست وو. په دې وخت کې يو کس راغی او مخامخ په يوه لوړ ځای کېنوست او لارويانو ته يې ځير ځير کتل پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل. لږ څنډ وروسته، هغه سړی له خپل ځایه را پورته شو او په یوه لاروي پسې ورغی. او د هغه خبرې ته له کتلو وروسته بېرته راغی او په خپل پخواني ځای کېنوست. ایاس بن معاویه رح هغه ته وکتل او ویې ویل: ووایئ دا سړی څه غواړي؟

خلکو وویل: تاسې یې ووایئ؟

ایاس بن معاویه رح: دا سړی ماشومانو ته درس ورکوي او په یوه سترګه ړوند غلام یې ورک شوی دی، د هغه په لټون پسې راوتی دی.

د نوموړي پر دې خبره له موږ نه یو کس پاڅېد او له هغه سړي یې پوښتنه وکړه: تاسې د څه شي په لټه کې یاست؟

هغه وویل: زما یو غلام ورک شوی دی، د هغه په لټه کې یم.

ترې ویې پوښتل: هغه غلام څنګه وو؟ هغه د خپل غلام ډېرې ځانګړنې وښودې او په آخر کې یې وویل چې یوه سترګه یې هم نشته.

ویې پوښتل: ستا دنده څه ده؟

ویې ویل: ماشومانو ته درس ورکوم.

موږ حیرانه شوو او له ایاس رح نه مو وپوښتل چې: تاسې په دې ټولو خبرو څنګه پوه شوئ؟

ایاس بن معاویه رح وفرمایل: کله چې دا شخص دلته راغی، نو ومې لیدل چې دی د ځان لپاره د یوه مناسب ځای په لټه کې وو. او په پای کې یې داسې ځای وټاکه چې په دې ساحه کې تر ټولو لوړ وو. ما د ده حالت ته چې وکتل نو د شاهي کورنۍ غړی راته ښکاره نه شو. نو ما فکر وکړ چې داسې بل څوک کېدای شي چې د پاچاهانو غوندې ناسته یې خوښېږي؟ له ډېر چورت وروسته مې فکر ته راغلل چې دا خوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يوازې د ماشومانو په ښوونکي کې وي. له دې نه پوه شوم چې دا شخص ښوونکی دی.**

**موږ وپوښتل: او د غلام په کيسې څنګه پوه شوئ؟**

**اياس رح ځواب ورکړ: په همدې وخت کې دې کس د يوه معمولي حيثيت لرونکي داسې لاروي د خبرې په ليدو پسې ورغی چې يوه سترګه يې نه وه. نو پوه شوم چې دی خپل غلام لټوي او غلام يې هم په يوه سترګه ړوند دی.**

***

## امام ابو حنيفه رح او يو اعرابي

**يحيی بن جعفر رح فرمايي چې: امام ابو حنيفه رح ماته خپله يوه کيسه وکړه. امام رح فرمايي چې: يو ځلې مې په دښته کې اوبو ته ډېره سخته اړتيا شوه. يو اعرابي راغی. له هغه سره د اوبو يوه کوزه وه. له هغه نه مې اوبه وغوښتې، خو هغه  د اوبو له راکولو انکار وکړ او ويې ويل چې په پنځو درهمو يې دربانديې پلورم. ما پنځه درهمه ورکړل او کوزه مې ترې واخيسته.**

**بيا مې هغه ته وويل چې: د وريشو ډوډۍ ته دې زړه کېږي؟**

**هغه وويل: راوړه.**

**ما هغه ډوډۍ ورته ورکړه چې د زيتون په غوړيو ښه غوړه شوې وه. هغه ښه په ماړه نس وخوړه. دا ځل هغه تږی شو.**

**راته ويې ويل چې: يوه پياله اوبه راکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل چې: په پنځه درهمه یې درکوم، له هغه نه یې په کم نرخ نه درکوم او په دې ډول هغه اړ شو چې زما پنځه درهمه بیرته راکړي. (کتاب الاذکیا ابن جوزی ۱۱۰)

***

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**